دویم ټوک

دَ هوَس ژبه مې بنده په لُکنت کړه
دا سينه راله برجقه په حکمت کړه

# خوبونه
## په ورغوي



2

خیام یوسفزی




الحَمْدُ للهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنَسْتَهْدِيهِ وَنَعُوذُ بِاللهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا مَنْ يَهْدِي اللهُ فَلا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْ فَلا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلا اللهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُه ○

خیام یوسفزے

رَبِّ قَدْ آتَيْتَنِي مِنَ الْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِي مِن تَأْوِيلِ الأَحَادِيثِ

اے ربه زما ! راکړے دي وماته تصّرُف او ښودلي دي وماته
د خوبونو تعبيرونه۔

O My Lord!
You have indeed bestowed on me of the sovereignty,
and taught me the interpretation of dreams.

سورة يوسف

خیام یوسفزے

# خوبونه
## په وږغوي

دويم ټوک

خيام يوسفزے

پښتو نېټ
PUKHTO.NET

ټول حقوق د ليکوال اؤ پُښتو ډاټ نيټ ويب پاڼې
پۀ نوم محفوظ دي

د کتاب نوم ..... خوبونه پۀ ورغوي
شاعر ........... خيام يوسفزے
مدير اجرايي د پښتو ويب پاڼې 2007 تا حال
نائب صدر همېشه پښتو ادبي ټولنه 2015-2017
00966-567262472
00966-594250009
Khayaam.yousafzai@outlook.com
Facebook.com/khayaam.yousafzai
@KhayaamYosafzai
مخ پاڼه ......... خيام يوسفزے
کمپوزر .......... خيام يوسفزے
پروف ريډنګ .. مشتاق مجروح يوسفزے
د چاپ کال ..... 2017 فروري - جمادی الثاني 1438
د چاپ شمېر ... يو زر
بېعه ............. 200 روپۍ
خورونکي ....... همېشه پښتو ادبي ټولنه آماندره ملاکنډ
چاپخائے ........ اعراف پرينټرز محله جنګي پېښور
03125945568 / 091 2580006

# ټرون

دَ اروابناد

# عبدالحکیم قادري بابا

پهٔ سپېځلي نوم

څوک چې دَ یو جلالي شخصیّت

ښښتن ؤ .

خیام یوسفزے

# د موندلو درکونه

- دفتر همېشه پښتو ادبي ټولنه اماندره ، ملاکنډ 03449613341
- اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور 03125945568
- طاهر بک سنټر شير خانه پلۍ ، ملاکنډ
- يونيورسټي بک ايجنسي خېبر بازار پېښور 091-2212534
- پښتو اکېډمي بک شاپ پېښور پوهنتون
- برېښنايي کتاب پښتو ډاټ نېټ --> www.pukhto.net <--

---

**کۀ غوټـې پسې وهې پۀ لاس به درشـي**
**چا وې دا چې پۀ درياب کښې ګوهر نشته**

خيام يوسفزے

دَ جمال کعبه کــــړه جوړه پهٔ ککو کښې
چې بیا ستا دَ مخ طواف کړي کعبې نورې
(قادري بابا)

دَ دویم ټوک دا

# سوغات

دَ
قادري بابا
شاګردانو او عقیدتمنو
ته پهٔ ډېر درناوي سره ډالۍ کوم

خیام یوسفزے

# لړلیک


* وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ ........ 10
(سمیع الدین ارمان)
* تعبیرونه په ورغوي ......... 21
(حیات روغانے)
* مقدمه ........................ 28
(خیام یوسفزے)


( ب )
د تورو د اوډنې په اعتبار


* بابونه (یو ګل) ............... 43
* باتنجان ، باتینګڼ ............. 46
* باجه ............................ 48
* بادشاه ، باچا(۱) ............. 50
* بادشاه ، باچا(۲) ............. 52
* باد (هوا) ...................... 55
* ببوزے .......................... 57
* بادام ........................... 58
* بادرنګ ........................ 60
* بار ، بوج ...................... 62
* باران .......................... 64
* بارخو ، مخ .................... 67
* باز ............................... 71
* بازار ............................ 74
* باغ ، بوستان .................. 80
* باغوان (مالیار) ............... 85
* بانک ............................ 86
* بانکي (چرګ) ................ 87
* بانۀ .............................. 90
* باهو ، کنګڼ یا بنګړي ...... 91
* بُت .............................. 93
* بتا ، بتق ........................ 98
* بتوه ، بخڅکې .................. 99
* بُخل (شوم) ................... 100
* بدن او اعضاء ................ 104
← سر ......................... 104
← وېښتۀ (زلفې) .......... 108
← تندے ...................... 111
← وروځې .................... 112
← سترګې ................... 113
← څټ او غاړه ............. 117
← پوزه ....................... 119
← خُلۀ ........................ 120
← ژبه ......................... 122
← غاښونه .................... 125
← غوږونه .................... 129

# لړلیک


- لاسونه ........ 131
- کوتې ........ 133
- نوکونه ........ 135
- سینه ........ 137
- نوم (ناف) ........ 140
- ګېډه ........ 141
- مْلا ........ 143
- عضوء تناسُل ........ 145
- پښې ........ 148
* بدحال ........ 151
* برص (برګے) ........ 152
* بربت ........ 153
* بربښنا او تندر ........ 154
* بستره ، لاندیستونے ........ 156
* بسمِ الله ........ 158
* بط (بتکه) ........ 162
* بغاوت ........ 163
* بُلبل (عندلیب) ........ 164
* بلیا ابنِ ملکان (خضرؑ) ........ 166
* بنډار (بزم) ........ 168
* بُنیاد ........ 169
* بنفشه (ګُل) ........ 171
* بهار (سپرلے) ........ 174
* بوس (بوساړې) ........ 175
* بوتان ........ 176
* بوډاتوب ........ 177
* بوسه ........ 179
* بې قراري ........ 181
* بې هوشي ........ 182
* بېرغ ........ 183
* بېره ........ 185
* بیتُ الخلاء ........ 186
* بیتُ المعمور ........ 187
* بېړۍ ........ 188
* بیزه ........ 190
* بېلچه ........ 192
* دَ بوډۍ تال ........ 193
* مننه ........ 194
* سرچینې ........ 196
* اشاریات ........ 200
* ستاسو خوبونه ........ 222

مُقَدِّمَه

# وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ

پهٔ داسې دور کښې چې پهٔ پښتو کښې دَ کتاب پهٔ لوست پهٔ ډېرو لږو کتابونو علمي تنده ماتېږي ، "خوبونه پهٔ ورغوي" دَ خيام يوسفزي هغه علمي او ادبي پوهنغونډه ( انسائکلوپيډيا ) پروجېکټ دے چې کله تکميل ته ورسي نو پهٔ خپل امتيازي حېثيّت کښې به دَ ليکوال سره سره دَ پُښتو ادب پهٔ تاريخ کښې يوه مُستنده حواله وي . دَ دې نه وړاندې دَ دې ليکوال پهٔ "جام جنون او جانان" او "خوبونه پهٔ ورغوي ، اول جلد" باندې ما تنقيدي مضامين ليکلي وو چې دَ پُښتو اخبارونو (وحدت او خپلواک) سره سره پهٔ سوشل ميډيا هم خوارهٔ شوي وو اؤ دا اوس ئې دَ "خوبونه پهٔ ورغوي ، دويم جلد" ما مطالعه کړو نو دلته دَ تېرو خبرو دَ تکرار نه حتی الوسع ډډه کوم او دَ دې کتاب دَ تعين قدر پهٔ سلسله کښې خپل نظر وړاندې کوم .

دَ خيام لفظيات، شعريّات، ذوق اؤ اسلوب کلاسيکي دے .دَ روان دور پهٔ نوې شاعرۍ کښې به دَ خيام نوم پهٔ ډېرو حوالو منفرد ثبت کېږي.نوې شاعري کهٔ دَ هيئت پسندۍ اؤ فکر و نظر مترقي ذاتي اؤ اجتماعي رنګونه دَ اظهار پهٔ اُفق ځرګندوي نو دَ عرفانِ ذات او ذاتِ عرفان پهٔ لټون کښې دَ کثرت نه وحدت او دَ وحدت نه دَ کثرت پهٔ

پړاوونو کښې داسې ورکه ده چې دَ حقيقت دَ رسا پوهنې پهٔ ځائے دَ حقيقت پهٔ مظهر او ذريعه مئينه ده ، دَ قوتِ مُتخيّله اؤ واهمه ملکې پکښې دَ خود سره ، خود اختلافه او سرکشه عقل پهٔ غاوِره اداګانو ځان سينګار کړے دے . پهٔ دے اتن کښې چې کله زهٔ دَ خيام حرکت ته ګورم نو دَ هندوستان دَ يؤ معروف استادِ ادب پروفيسر وهاب اشرفي دَ يوې جملې نه ماخوذ مفهوم مخالف (زما ذاتی رائے ) راته نور هم منقح شي چې مونږ (مشرق) خپل ما بعد جديد سفر دَ جديد نه مخکښې کړے دے. دَ "جام جنون او جانان" نه تر دې موجوده اثر کښې دَ خيام فکرې ارتقاء پهٔ دغه مذکوره لار جوته شوې ده . اؤ دا رويه زمونږ دَ کلاسيک پهٔ نمائنده شاعرانو کښې هم پهٔ ګوته کېدے شي.

نوې شاعري کهٔ دَ نوې دور دَ تقاضې پهٔ پوره کولو کښې څومره هم کاميابه ده خو دا غفلت ئې ډېر برخېر دے چې دَ خپلې کلاسيکي سرمائې سره پېوستون ، دَ هغې روح اؤ دَ فکر و فن جوهر سره وابستګي پکښې منقطع ده . کلاسيکي سرمايه دَ تاريخي تحفُظ سره سره دَ خپل جوهرِ عرق دَ تهذيبي پړاو پهٔ هر عصر کښې دَ شتون يؤ مظهر غواړي. زما پهٔ خيال دَ دغه تقاضې فرضِ کفايه خيام ادا کوي .اؤ دَ معاصر پُښتو ادب ټول نمائنده ليکوال ئې دَ يؤ محکم الزام نه مُبّرئ کړي دي . حقيقت دا دے چې دَ دې فريضې لپاره کوم استعداد اؤ ذوق مطلوب دے هغه هم دے ليکوال کښې شته دے.

پهٔ نوې شاعرۍ کښې دَ غزل دَ حقيقي ترفع سره سره دَ نورو اصنافو وقعت پهٔ شا شوے هم دے. دومره زوردار نظم چې دې فضا کښې ځان ومني اؤ پهٔ خپل جوړښت اؤ فکر کښې هم دَ غزل دَ اثر نه پُوره پُوره پاک وي ،ډېر کم دے. پهٔ معرىٰ اؤ ازاد نظمونو کښې دَ قيصر افريدي اؤ دَ امين الله داؤدزي دَ استثنىٰ نه، اؤ پهٔ پابند نظمونو کښې کهٔ دَ نمائنده خلقو چونړ کېږي نو دَ "خوبونه پهٔ ورغوي" ليکوال به پکښې خامخا يؤ وي. نَن "مثنوي" چې دَ پښتو ادب بلها ذخيره ئې خپله لمن کښې ځائے کړې ده ، اؤ ډېرې امتيازي نښانې پکښې هم محفوظې دي دَ خپل "کرافټ اؤ تهيم" دَ موجودګۍ لپاره چې دَ دې عصر نه کومه غوښتنه کوله،هغه خيام پهٔ داسې طور دَ پُوره کولو هڅه وکړه ،چې دَ وقعت تېره ګواهي به ئې تر مودو مودو ژوندۍ وي.

نــوې تهذيب پهٔ اسانتيا شتَمن کړم
خو لا پهٔ زړهٔ کښې مې ترې کرکه هم ده
**(سميع الدين ارمان داودزے)**

زهٔ پکښې بيا هم ،منتشر يم دَ صحرا پهٔ شانې
څهٔ کهٔ راغونډه دا دنيا شوه دَ يؤ کلي پهٔ شان
چا ئې خندا ته کتل چا ئې نزاکت يادوهٔ
ما دَ ګلاب سينه کښې بله سره لمبه ليدله
**( قيصر افريدے)**

دَ ما بعد جدید صورتحال دَ ډېرو بدو ورکړو نه یوه سهل پسندي هم ده. خیام دَ دې فریبه ډېر دُور و دراز دے. اؤ هغه داسې چې دې مذکوره اثر کښې هغه دَ ادب اؤ علمُ التعبیر منظوم توضیحاتو کښې دَ خپلو قدرونو دَ ارزښت ، دَ خپل ثقافت دَ تحفظ سره سره دَ یو معلوم آئیډیالوجي پهٔ ترځ کښې خپل عنوان او معنون دَ دې دور دَ کلاسیکي سرمایې پیاوړې برخه جوړوي.

دَ اسلامي علومو شاهکارونه ډېر ناشنا دي . پهٔ بین المللي کچ کهٔ مونږ دَ مسلمانانو دَ علم پهٔ دنیا کښې پهٔ برخې باندې نظر واچوو نو دَ دې به قائل شو چې دنیا ئې تعین قدر نهٔ دے کړے. یاده دې وي چې زهٔ دَ قام پهٔ بنیاد دا خبره نهٔ کوم، دَ دې زمانې دَ حسن نثار دَ دانش نه متأثره دې خبر وي چې دَ ژبې ، جغرافیې او حسب نسب نه بالا دَ فکر اؤ نظر پهٔ بنیاد هم دَ انسانانو دَ یؤ بل سره بلها رشتې تړلې دي . پُښتون مسلمان کهٔ دَ عرب مسلمان پهٔ علمي سرمایه کښې ځان دَ کوم نسبت /رشتې پهٔ وجه سره ګډ ګڼي نو بې دلیله بې بنیاده نهٔ ده . مغرب زده ذهنونه دې صرف دَ علم دوستۍ اؤ علم دشمنۍ پهٔ حقله دَ شرق وغرب او مسلم غېر مسلم روّیې او تاریخ مُتقابل کړي نو تور اؤ سپین به پخپله جدا جدا شي .

دَ "سقراط" دَ زهرو پیالهٔ، دَ "ګلیلیو" دَ لس کلن قېد نه پس مظلومانه مرګ ، دَ یونان دَ "هائے پیشیا" نومې فلاسفره جینۍ دَ "سائرل"

(۱٤١٤ء) په فتوئ په بازار کښې بربنډول، بیا ترې نه څرمن ویستل او بیا وژل ، دَ اټلي مشهور فلسفي برونوکو دَ مذهبي عدالت لهٔ خوا پهٔ کال۱۶۰۰ءکښې ژوندے سوځونه،دَ "دانتے"ملک بدري، دَ "موسیٰ بین میمون" (یهودي) تمامي کتابونه سوځول ، او داسې نور بلها واقعات دَ علم دښمنۍ ثبوتونه دي هُم پهٔ دغه عصرکښې دَ مسلمان دَ علم سره رویّه دَ "بیت الحکمت او دار التراجم" دَ خدماتو نه واضحه دي. ول ډیورنټ "ایج آف فیتھ Age of faith"کښې لیکلي دي چې دَ تاتاریونو دَ حملې پهٔ وخت صرف یو بغداد ښار کښې شپږدېرش (۳۶) سرکاري لائبرېرۍ وې . تر ټولو محترمه طبقه علماء وو کهٔ هغه به مسلمانان نهٔ هم وو. تاریخ الحکماء لیکلي دي چې دَ هارون الرشید سرکاري معالج چې ډېر لوئے عالم وهٔ "جبریل بن بخت یشوع سالانه آمدن دَ سرکار نه "درې دېرش لکه او شل زرَه درهمه" (۳۳۲۰۰۰۰) وهٔ.

پهٔ دې دور کښې به دَ علمي مقام جوړولو لپاره لکه دَ نَن یو دَ شعرونو کتاب ګوتے لیکل کافی نهٔ وو ،بلکه هر لیکوال به پهٔ صحیح معنو کښې عالم وهٔ او علم به ئې دَ یوې اکائي پهٔ صورت کښې مربوط ګڼلو، هُم دغه وجه وه چې رازي ، غزالي، زمخشري، واقدي ، ابنِ کثیر او هغه ټول چې خیام پهٔ منظومه مقدمه کښې ستائیلي دي ، هر یو ځان ځان لهٔ انسایکلوپیډیا وه. خیام دَ دغو خلقو دَ مقام نه نهٔ صرف خبر دے ، بلکه پهٔ څو کلکو نسبتونو ورسره تړلے هُم دے ، ځکه ئې دَ "خوبونه پهٔ ورغوي "پروجېکټ

پیزوونه پهٔ پښتو ادب کړې ده.

اسماعیل بن ابوبکر المُقري یؤ عالم دے ، چې یؤ داسې شاهکار کتاب ئې لیکلے دے چې بیک وقت دَکتاب دَ متن لوست ئې پهٔ یؤ سمّت کښې دَ یؤ علم او پهٔ بل سمّت کښې دَ بل علم او بل کښې دَ بل علم متن دے. دَ دې کتاب نامه" الشّرفُ الوافی" ده. اؤ پهٔ وافی مشهور دے . پهٔ یؤ عبارت کښې پینځه علوم خُوندي کول دَ کوم ذهانت ګواهي ده !!علمُ الفِقه، علمُ العروض، علمُ التاریخ (دَ شام اؤ یمن دَ خلافت کارنامې )، علم النّحو، علمُ القوافی اؤ دَ محراب شکل کښې پکښې دَ ادب یؤ بل نادر کتاب هم ځائے شوے دے .

دَ اسماءُ الرجال دَ علم پهٔ شان دغه کتاب هم پهٔ علمي دنیا کښې یؤ بې نظیر شاهکار دے. مونږ له دَ سهل پسندئ نه لرې دَ دغه روایاتو تَتبع کښې لکه دَ خیام خپل صلاحیّتونه استعمالول پکار دي

دَ اسلامې فنون پهٔ مقدمو کښې به یؤ صنعت پکارولے کېدو "براعت الاستهلال" پهٔ اسانو ټکو کښې دَ دې تعریف داسې دے چې یو مُقدمه کښې هغه لفظیات دَ مقدمې پهٔ طور استعمالول چې پهٔ مابعد کښې پهٔ کوم علم کتاب لیک دے ، دَ هغې اصطلاحات هم وي لکه زمونږ مدارسو کښې دَ علامه عنایت احمد فارسي تالیف"علم الصیغه" مُقدمه ، دَ علم منطق مشهور کتاب دَ محب

الله بهاري دَ سُلم مقدمه او دَ علم الصرف مشهور کتاب دَ شيخ احمد الحملاوي "شَذا العَرفِ في فنَ الصَرف" مُقدمه ، زهٔ چې دَ "خوبونه پهٔ ورغوي" دَ دواړه جلدونو دواړه منظوم مقدمې لولم نو ما ته پکښې دَ دغه صنعت يؤ څرک محسوسيږي اګرکه پهٔ فني او رياضياتي توګه ئې پکښې مکمل اثبات نهٔ هم کيږي .

خيام چې دې جلد کښې کوم تعبيرونه منظوم کړي دي، هغه پهٔ دوه قسمه دي، يؤ هغه چې عمومی طور دَ هر انسان کهٔ دَ هرې ژبې اؤ هر ملک سره ئې تعلق وي لپاره قابلِ قبول دي. اؤ دويم هغه چې علاقائي (ريجنل) طور باندې قابلِ قبول دي . دَ اولُ الذکر مثالونه پکښې دَ باران (بغير وراني)، دَ روڼ تندي ، تريو تندي ، دَ مخ بدرنګي، دَ مخ ښکلا اؤ خندا، دَ بازار، دَ بنګړو وغيره ټول تعبيرونه دي. دَ موخرُ الذکر قسم پکښې دَ موسيقۍ تعبير دے. موسيقي دَ هندوازم اؤ عيسائيت دَ مذهب اهمه حصه ده . زمونږ مذهب کښې ئې څهٔ علماء جزوي مشروط اجازت ورکوي ، اؤ څهٔ ئې دَ سد للذرايع تحت شديد مخالفت کوي. پهٔ دې مسئله ما خپل کتاب "زرپاش" کښې دَ مولانا روم دَ "مثنوي" دَ خلاصې پهٔ ضمن کښې تفصيلی خبره کړې ده. دلته محض دا وئيل غواړم چې دَ موسيقۍ پهٔ تعبير کښې چې خيام کوم جهت راوړے دے ، هغه دَ څهٔ خلقو لپاره قابل قبول دے اؤ دَ څهٔ لپاره نهٔ ، دَ مسلمان صوفياوو سره سره بعضې ډير صاحبِ افتاء لپاره هم به دغه تعبير قابلِ قبول نهٔ وي .

دغه رنګ دَ سرتور سر تعبیر پهٔ عمومي توګه قابلِ قبول دے خو یؤ شعر دې پکښې چې :

دَ سرتور سَر تعبیرونه ګمراهي ده
اِنتباه ده ، اشاره ده ، آګاهي ده

یاده وي چې سر سرتورول پهٔ مشرق کښې دَ بغاوت یا دَ عدمِ احترام وجه ده، خو مغرب کښې دا عینِ عظمت اؤ احترام دے لکه څنګه چې دلته دَ چا پهٔ سر لاس ایښودل دَ شفقت علامه ده ، دغه رنګ نیوزي لېنډ کښې دا دَ دښمنۍ دعوت دے، اؤ دَ شنو سترګو پهٔ باره کښې شعر دے چې :

دَ شنو سترګو نه بې دینه څرګندېږي
پهٔ عمل کښې به دې خامخا خوئېږي

دا هم علاقائي طور قابلِ قبول تعبیر دے . اؤ بل زما پهٔ خیال دَ ګلوبل ایتهکس خلاف ورزي هم ده . دَ بېرغ دَ رنګ پهٔ بدلون دَ خوب تعبیر بدلېږي، دَ ټولو رنګونو معني زمونږ دَ ټولنې دَ نفسیاتو مطابق دي ، سېوائے دَ سُور رنګ نه ، دې ته تعبیر کښې " تالان" وئیلې شوي دي ، دغه رنګ یؤ بل ځائے کښې هم دَ سُور رنګ پهٔ حقله داسې شعر دے چې :

پهٔ خوبونو کښې سْرې سترګې سره لمبه وي
دغه بُغض وي ، او حسد وي ، کینه وي

سور رنګ زمونږ تولنه کښې دَ مينې، وادهٔ ، نشې او ژړا علامت هم دے. نـو زما پهٔ خيال دلته يـؤ مخيـز تعبير ډېر مناسب نهٔ وهٔ . نورو معنو ته هم پهٔ مناسب توګه ځائے پکار وهٔ.

دغه رنګ دَ "چرګ "دَ تمثيلي تعبير لپاره دَ غنی خان نظم "چرګ "نه استفاده اؤ استدلال ډېر پياوړے روايت دے، دې سره دَ کلاسيک اعتراف اؤ عظمت هم بحال شوے دے اؤ بيا دَ چرګ دَ تعبير لپاره چې کومه انګريزي حواله راوړې شوې ده،نو دَ هغې پهٔ وجه دَ خيام تمثيل اؤ دَ غنی خان معنیٰ آفريني دواړه نور ډېر مستند شـــوي دي.

دَ بُلبل دَ تعبير لپاره چې خيام کوم اجتهاد کړے دے هغه هم ډېـر رسا دے.دَ پوزې دَ تعبير دَ هر صورت معنې زمونږ دَ تولنې مطابق دي .دې نه علاوه دَ نکريزو دَ رنګ پهٔ باب له خيام دَ يوې اسطورې تحفظ کړے دے، هغه داسې چې :

کهٔ دې ګوتې پهٔ نکريزو نهٔ رنګيږي
پيکه مينه دَ خاوند ترې څرګنديږي

دې نه معلوميږي چې خيام دَ چاپيرچل نه څومره ډېر باخبر دے اؤ دا يؤ ذوقي خبره هم ده،خو نهٔ پوهيږم چې دلته حواله کښې ليکوال "تعبيرِ خيام" ولې نهٔ دے ليکلے؟

دَ هنداري پهٔ حقله راوړلے شوے شعر داسې دے چې :

دَ هندارو بازارونه چُغل خوار دي
اموخته پهٔ داسې خوب کښې رياکار دي

زما رايې ده چې دَ ائينې پهٔ باره کښې زمونږ شاعري ډېره مالداره ده اؤ دغه وجه ده چې دَ ائينې علامتي معنې هم بې شمېره دي :

دا تهٔ ئې کهٔ زما دَ ليونتوب جادوګري ده؟
جهان کښې ائينه ده کهٔ جهان پهٔ ائينه کښې
**( اظهار الله اظهار )**

دا خاموشي ئې لهٔ عادته ، لهٔ غفلته نهٔ ده
دا غرېو نيولې دَ احساسه ستا پهٔ حال ائينه
**( جاويد احساس )**

ماته دا کُل عالم پهٔ چغو چغو تا را ښـــائي!
خدائيګو چې زمکه ائينه ده هم آسمان ائينه
**(سميع الدين ارمان داودزے)**

نو دَ هنداري پهٔ تعبير کښې دَ خيام نه مذيد اجتهاد مطلوب وهٔ. دغه رنګ دَ "بُت" پهٔ حواله چې څومره شعرونه دي هغه هم دَ يوې زاويې

ترسیل او ابلاغ دے."بت" یؤ ډېر زورور علامت دے ، اؤ دې باره کښې هم متنوع اظهار مطلوب وهٔ :

بُت گر دَ تخیّل مې جوړوي بُت دَ جانان
پهٔ روح کښې زما کان ئې دَ مرمر لیدلے دے

**(پیر محمد کاروان)**

نوټ: دَ خیام دَکار پهٔ حقله زما مجموعي رائې دَ هغه پهٔ کتاب جام جنون اؤ جانان اؤ دَ دې کتاب اول جلد باندې لکیلو شوو زما دوو تنقیدي مضامینو سره دَ دې مقدمې نه ماخوذ کېدےشي .اول الذکر دواړه مضامین پهٔ " تنقیدي تعبیرات " کښې شامل دي.

**سمیع الدین ارمانؔ داودزے**

هریانه بالا پېښور

۲۱ جنوري ۲۰۱۷

# تعبیرونه په ورغوي

د خپلو لوړو ، تندو اؤ نورو انګېرو سره خلق خپل خوبونه هم پهٔ زېږون ځان سره راوړي . دا خوبونه د ډېرو معروضي حقیقتونو نه زیات ارزښتمن وي . ژبه نهٔ وه نو د خوبونو د بیان کومه لاره هم نهٔ وه ، البته د خوبونو د تعبیر لټولو یؤ تکل د ژبې د نیشتون پهٔ مهال هم وهٔ. مونږ د یوې داسې دورې د موجودګۍ نه انکار نهٔ شو کولے چرته چې د ژبې د نیشتوالي لهٔ امله خوبونه پهٔ سینو کښې پاتې شوي ، هېر شوي او ورک شوي وي.

کله چې انسان پهٔ وړومبي ځل ژبه ایجاد کړه ، هغهٔ خوب کښې لیدلې تصویري لړۍ د خپل فهم اؤ یادونو سره سمه مرتب کړه اؤ دغسې بې ژبانه خوب هم د ژبې خاوند شو. د وخت تېرېدو اؤ د اظهار قوت پهٔ زیاتېدو سره مونږ دا دعویٰ هم وکړه چې خوب کښې ما داسې ووئیل یا ما ته داسې ووئیلے شول خو اصل کښې د مزغو کومې برخې چې خوب لیدهٔ، هلته د ژبې د نیشتوالي د مخه د خبرې امکانات نهٔ وو ، مونږ صرف د لیدلو منظرونو ، انځورونو اؤ پېښو نه قیصه جوړوله اؤ کومه ژبه چې مو وئیله ، هغې کښې مو بیانوله.

خیام یوسفزے

د وړومبۍ ورځې نه مذهب او فلسفې خوبونو کښې دلچسپي لرلې ده. تر دې وخته د شوي څېړنې سر د ګلګامش ( Gilgamesh ) د ټولو نه وړومبي معلوم خوب ته رسېدلے چې هغه پکښې د اسمان نه راپرېوتے تبر ويني اؤ بيا لکه د محبوبې دغه تبر ته غاړه وځي . مور ئې ورته د خوب تعبير را وباسي . د ارسطو پهٔ " پروا نېچرليا " ( Parva Naturalia ) کښې د "خوبونو پهٔ اړه"(De insomniis) برخه کښې خوبونه " د ژوند د واقعيتونو رد عمل" اؤ "د ماحول د تاثراتو تمثيل" وبللے شول.

د ګلګامش خوب نه 'مونږ د اورشتري ( Avaraoshtri ) د زوي عبادت کوو چې بوږنوونکي خوبونه او وېروونکې انديښنې راځخه وتمبوي' ته رسو اؤ بيا د اسماني کتابونو نه د علامه ابن سيرين[رح] تعبيرونه اؤ د سيد عبد العزيز دباغ روايتونه ، د کالرج (Coleridge) لهٔ خوا " قبلائي خان (Kublai Khan)" د خوبونو نه ترتيب کولو دعوې پورې[ما خپله پهٔ "حياتونه" کښې " د همزاد غږ" د خپل هغه خوب نه ترتيب کړے وهٔ چې ما هم ليدلے وهٔ اؤ سحر چې مې بې بې ته وئيل نو هغې هم دغه خوب پهٔ دغه شپه ليدلے وهٔ [ بيان د پاره د دواړو لفظونو کښې اختلاف او واقعات وړاندې وروستو وو ] ، دا مزل پهٔ 1850 ز کښې د الفرډ مورے ( Alfred Maury ) د درې ذره خوبونو تشريحي تاليف ته رسي چرته چې خوبونه د يادونو تجربې ، د بلې کومې متوازي دنيا د تصور اؤ د روحاني تړون اؤ بهرنو تاثراتو نه هم

يؤ ګام وړاندې اخلي . فريوډ ( Sigmund Freud ) نه خبره "يـــونګ ( C.J. Yung )" اخلي اؤ خوبونه د اونيرولوژي (Oneirology ) پهٔ نامه د علم يوه باقاعده څانګه کېږي.

نيازبين خيام يوسفزي دغه تسلسل کښې د تعبيرونو منظوم"مشقت" ته متې رانغښتې دي . مونږ ورته د دومره توان دعا کوو چې' الف ' نه پېل شوې ، دې 'ب' نه ئې تر' ي 'ورسوي . د خيام د صلاحيت منونکے يم چې به د دغه غر پهٔ سر ' ودانګي'.ملګري ارمان پهٔ "تنقيدي تعبيرات" کښې د دې کتاب پهٔ وړومبۍ برخه خپله علمي ليکنه تنقيدي حق ادا کړے. تعبير د پاره ئې د خيام راکښلـې شوې کرښه هم برخېره کړې چې هغه د دې دويمې برخې پهٔ متن کښې هم ښکاره ښکاري. ملګري ارمان د خوب او تعبير تړون د لاشعور اؤ شعور سره پهٔ ترتيب کړے دے اؤ څکه ئې دواړه د بېلې بېلې دنيا هم ياد کړي دي.

يقين د خوب اؤ ويښـــې دواړو حالتونو کښې زمونږ سره خوا کښې ولاړ وي.مونږ چې 'تله' کښې کېږدو نو پهٔ خوب اؤ ويښه کښې د دې يؤ هومره درجه د' خوب' اؤ' بېدارۍ' تر منځه فرق کولو کښې زمونږ د لارې خنډ کېږي.خوب کښې هم غېر طبعي' وجود' داسې قائم وي،څنګه چې مونږ د' بېدارۍ' پهٔ حالت کښې طبعي'وجود' قائم تسليموو.لکه مونږ خوب کښې د يو' درې اړخيزه التباس' سره مخ کېږو چې دغه التباس زمونږ ذهن کښې راتوکېږي .کله چې اودهٔ

کېدو سره زمونږ نور حِسونه دمه کوي ، دماغ د نوو غبرونو، کېفیاتو اؤ احساساتو د هر کلي نه وزګار شي نو دغه دوران کښې د مختلفو معلوماتو اؤ یاداشتونو په ترتیب بوخت شي. زمونږ ځینې غوښتنې اندېښنې ، وېرې اؤ واهمې (چې 'غېر طبعي' وي) د معلوماتو اؤ یاداشتونو په څېر کښې مخې ته راشي اؤ مونږ ته (Visualize) شي. خوب اؤ ویښه دواړو حالتونو کښې مونږ هر څهٔ ځکه ګڼو چې دا زمونږ د ادراک تعبیر وي.

'خوبونه' هم د 'حقیقتونو'غونډې د ذهن نه بهر نهٔ په معروضي توګه ثابتېږي اؤ نهٔ په موضوعي.اوس تر څو چې مونږ د خوبونو مرکزیت موندلے نهٔ وي ، د دې لټون تنده به مونږ لړزوي. د انسان ' اِیْمَان بِالْغَیب 'غوښتنه د څېړنې د عمل یو نهٔ ختمېدونکي تسلسل پېلامه خو نهٔ ده ؟ 'استخاره' د خوب اؤ ویښې په منځ کښې په کومه نقطه د پېوستون استعاره خو نهٔ ده ؟ سائنس فکشن پهٔ دې اړه ډېر څهٔ مخې ته رواړي دي.دا هر څهٔ په علمي نړۍ کښې د تجربو د مرحلو نه تېرېږي اؤ وخت پهٔ وخت ئې ځینې نتیجو نه پلو پورته کېږي.

مونږ پهٔ مورنۍ ژبه کښې د تعلیم د نیشتوالي پهٔ وجه تحقیقي رویه اؤ تخلیقي اظهاریه بائیللي دي . دا وخت مونږ د علم نه تر د علمي اصطلاحاتو د' بادارو' اؤ 'غاصبو' قامونو ژبو ته ځولۍ خوره کړې ده اؤ پهٔ تحقیقي اؤ تخلیقي ډګر هم د هغوي ورکړې ته ناست یو. داسې حالاتو کښې هغه ملګري ډېر د ستائینې وړ دي چې د مروجه

اؤ تسليم شوو علمونو پنګه خپله ژبه کښې خوندي کوي اؤ راتلونکو نسلونو د پاره د ژبې پۀ ادبي پنګه کښې خپله برخه کار کوي.

ملګرے خيام دغه فريضه پۀ ټول ادبي ديانت سره تر سره کـوي. فني لحاظ سره هغه د مروجه خوئېندکه شعري روايت نه يو اړخ ته ولاړ دے. د هـرې موضوع خپل لفظيات وي اؤ د دې علمـي اؤ عارفانه موضوع سره دغه لړ کښې خيام د انصاف پُوره پُوره هڅه کړې ده. د هغۀ لفظيات کښې د مُشکل پسندۍ نخښې د ژبې د څربولو يوه شعوري هڅه ځکه ګڼم چې ځاے پۀ ځاے حاشيه کښې معنې ورکول د لوستونکي د وکابلري پراخه کولو پۀ باور شوې. قافيه د عيبونو پۀ حواله د'معموله'،'اکفاء'او څۀ ځايونو کښې د اقوا ښکار ده. دلته موضوع د استثناء لار هم غواړي خو کۀ قافيه مونږ پۀ تلفظ يا سيمئيز وېندود اداءنه کړو اؤ د علم القافيه پۀ ځاے صوتيات د قافيې د 'صالح' کېدلو جواز ومنو نو داسې کوم لفظ اؤ کوم اسم فعل پاتې کېږي چې هغه به د'ېږي'،'انې'،'ونه' پۀ زياتونې سره قافيه کېږي نۀ؟

پۀ خوبونو ښېړنې رواني دي. ذهن کښې د خوبونو د زيرمې تعين باوري کېږي. د خوبونو پۀ اړه زمونږ علم کښې د وخت تېرېدو سره اضافه کېږي اؤ دا به مونږ يوه ورځ د دې جوګه کړي چې د خوبونو

مرکزیت دریافت کړو. یو ځل زما د خولې نه ختلي وو چې:

دلته تعبیر داسې شنډ شوے چې څوک خوب نهٔویني
دلته جنون دومره بې ننګه چې ګرېوان خرڅوي

خو مونږ به د خوبونو لیدل نهٔ پرېږدو. خوب او ویښه دواړو کښې باور زمونږ تر څنګه ولاړ وي. مونږ به د خوبونو د علامتونو، تصویرونو او منظرونو نه د خپل معروض پهٔ رڼا کښې د خپلې ذهني سویې جاج اخلو. خپل تعبیرونه به هم د دغه معروض پهٔ تشریح اداږه کوو. د اروندتي راے پهٔ وړومبي ناول ( The God of small things ) کښې یو کردار 'چېکو' یوه مکالمه کښې وائي،[ مفهوم ]'مونږ جنګې بندیان یو او د جنګونو د خوبونو لیدلو پهٔ رنځ اخته یو مونږ به کله سوله ونهٔ وینو. نهٔ زمونږ څړیکې دومره لویې دي، نهٔ مو خنداګانې دومره زړهٔ راکښونکې دي، نهٔ مو خوبونه دومره ښېرازه دي او نهٔ مو ژوند دومره ارزښت لري چې نړۍ مونږ ته پهٔ درنه سترګه وګوري'.

چې عدم، ژوند او مرګ زمونږ د یو ادراک درې تعبیرونه دي، چې خوبونه زمونږ د انګېرو د انځورونو نه روغېږي، چې خوبونو کښې هم باور زمونږ تر څنګ ولاړ وي، چې مونږ خوبونه شنډ نهٔ ګڼو ــــ بیا خو هغه ورځ لرې نهٔ ده چې خوبونه مو زړهٔ راکښونکي رنګونه شي، منظرونه مو د پُښتون معروض علامتونه او تعبیرونه مو سپېځلې سندرې ـــ هغه رنګونه چې د پُښتنې خاورې د مکېز

پېژندګلو وي اؤ هغه سندرې چې اسمان ئې هم د خُمار وجدان کښې ځانګي. بیا به مونږ د جنګونو خوبونه نهٔ وینو بیا به مونږ کښې دننه 'چېکو' دغه مکالمه نهٔ وائي.

خدایے دې نهٔ کړي چې زمونږ راتلونکي نسلونه خوبونو کښې وېره ویني. خدایے دې وکړي چې زمونږ ذهنونه د بوړنوونکو خوبونو، وېرو اؤ واهمو پهٔ ځایے د مینې اؤ سوکالۍ د رنګونو نه برجق شي اؤ کله چې ئې مونږ خیام ته وایو نو د هغهٔ پهٔ ورغوي کښې رنړا، موسکا، ویاړ اؤ سپرلے وینو.

قام بیا وطن

**حیاآت روغانے**

باچاخان پوهنتون چارسده

د فرورۍ اوومه، 2017 ز

# مُقَدِّمَه

دَ هوَس ژبه مې بنــده پهٔ لُکنت کړه
دا سینه راله بــرجقه پهٔ حکمت کړه *

عاقلان چې مې مجبور پهٔ آفرین کړل
دا اســـونه دَ معنو مې ورته زین کړل

څهٔ طبقــې دَ مُعّبِـــرو درته ښایم
پهٔ تلخیص کښې دغه ټولې درته ستایم

پهٔ دا فن کښې یو ټولے لهٔ انبیاء دے
چې پهٔ ټــولو مُعّبِرو کښې بالا دے

پهٔ دنیا کښې اول خوب آدم لیدلے
هم تعبیر دَ دغې خوب ئې دې ویستلے

* برجته ، برجغه

پهٔ دا فن کښې ذوالقرنین[ع] وهٔ، اؤ دانیال[ع] وهٔ (۱)
پهٔ تعبیر کښې چې حاصل ورته کمال وهٔ

ابراهیم[ع]، یعقوب[ع]، یوسف[ع] پکښې نُما دے
بل مې زړهٔ دے او ځیګر دے مصطفیٰ[ص] دے

بله ډله چې یادېـــــږي نو اصحاب دي
چې کره پـــوره پهٔ عقل، پهٔ دا باب دي

(۱) د نبوخَذنِصر خوب او دَ دانیال علیه السلام تعبیر :

"
The king saw a gigantic statue made of four metals, from its gold head to its feet of mingled iron and clay; as he watched, a stone "not cut by human hands" destroyed the statue and became a mountain filling the whole world. Daniel explained to the king that the statue represented four successive kingdoms beginning with Babylon, while the stone and mountain signified a kingdom established by God which would never be destroyed nor given to another people"

**Book of Daniel**
**Chapter 2 : Nebuchadnezzar's dream** (From Wikipedia)

( جاري پهٔ بل مخ )

ژباړه : باچا يوه لويه مجسمه وليدهٔ چې دَ څلورو وسپنو نه جوړه وه چې سر ئې دَ سرو زرو ، اؤ پښې ئې لهٔ وسپنې اؤ خټو جوړې شوې وې اؤ څهٔ ګوري چې يوه تيږه لهٔ غرهٔ راغله اؤ مجسمه ئې ټوټې ټوټې کړه اؤ لکه دَ غر لويه شوه او ټوله دنيا ئې ونيوله ـ

دَ دانيال تعبير :
دغه مجسمه پهٔ څلورو باچاهانو دلالت کوي چې دَ بابل نه به شروع شي اؤ دغه تيږه اؤ غر پهٔ داسې باچاهی دلالت کوي چې دَ خدائې لهٔ خوا به جوړه شي اؤ پهٔ ټولو به غالبه شي ، هغه به ټوله دنيا ونيسي اؤ تر ابده به وي ـ

- دَ دانيال عليه السلام د نور تفصيل د پاره وګورئ :
  احکام القُبور ( ابو بکر بن ابی الدنيا رح )
  البداية والنهاية ( حافظ ابن کثير رح )
  قصصُ الانبياء ( حافظ ابن کثير رح )

ابو بکر^رض^ وۀ ، عمر^رض^ وۀ اؤ عثمان^رض^ وۀ ①
بل علي^رض^، ابنِ عباس^رض^ وۀ اؤ یمان^رض^ وۀ

بل ښۀ پوهه عبد الله نمسے دَ عاص^رض^ وۀ
ابو ذر الغفّاري^رض^ هم پکښې خاص وۀ

عبد الله بنِ عمر^رض^ هم پـــــوهېدلو
بل انس بنِ مالک^رض^ پـــرې رسېدلو

پۀ دا فن سلمان فارسي^رض^ هم مُنوّر وۀ
دَ سلام دَ زوي پرې هُم پوره لاس بَر وۀ ②

---

① أبو بکر الصديق^رض^ ،عمر^رض^ بن الخطاب ، عثمان^رض^ بن عفان ، علي^رض^ بن أبي طالب-
( خلفاء الراشدين ومن عشرة مبشّرين )

- حذيفة^رض^ بن اليمان
- عبد الله^رض^ بن عباس بن عبد المطلب بن هاشم ( فقيه و امام التفسير وحَبْرُ هَذِهِ الأُمّة )

– دعا النّبيّ^ص^ لابن عباس^رض^ وَقال : اللّهُمّ فَقِّهْهُ فِي الدّينِ وَعَلّمْهُ التّأويلَ
(مسند الامام أحمد بن حنبل^رح^)

② عبد الله^رض^ بن سلام

پۀ تعبیــر کښې عائشه[رض] بي بي یکتا وه
مېرنۍ ئې پۀ دې فن کښې خور اسماء[رض] وه

یــو تولے لۀ تابعینــو هم یادېــږي
چې پۀ علم ئې دَ ذوق سترګې خوږېږي

یو امام ابــنِ سیرین[رح] لوئې تــابعي وۀ
بل سرخېل دَ دغې فن حسَن بصري[رح] وۀ

قتاده[رح]، بل مجاهد[رح] پکښې هُم شمار وۀ ①
پۀ تعبیر کښې د جُبیر[رح] علم بسیار وۀ

① قتادة بن دعامة[رح] ( تابعي وعالم ، مُحدث، مفسّر، حافظ، علامة )
- مجاهد بن جَبْر[رح] ( إمامٌ وفقيه وعالمُ ثقة وكثير الحديث، وكان بارعاً في تفسير )
- سعيد بن جُبير[رح] ( كان تقياً وعالماً بالدين )
– سعيد[رح] بن جُبیر دَ عبد الله بن عباس[رض]، عبد الله بن عمر[رض] پۀ خاص زده کوونکو کښې وۀ اؤ حجاج بن یوسف شهید کړے وۀ ، سعید بن جبیر د مرګ نه وړاندې حجاج ته دا دعا کړې وه اللّهُمَّ لاَ تُسَلطهُ عَلى أحَدٍ يَقْتُلُهُ بَعْدِي.
چې زما دَ مرګ نه پس ئې دَ چا پۀ قتل لاس بر مۀ کړه اؤ هم داسې وشو .
(و الله اعلم بالصّواب)

يو طاووس رح هم تابعي مِنَ الکُبّـار وۀ ①
دَ سعيد رح ابنِ مُسيب علم مُشکبـار وۀ

خوشبـــويی ئې راخـوري دي دَ علمونو
دَ عمر رح ، عطاء رح شعبي رح لۀ بـوستـانونو ②

يـــو تولے لۀ مُعَبِّـــرو فُقهاء دي
اوازې ئې هر طرف ته پۀ دنيا دي

---

① ابو عبد الرحمٰن طاووس بن کَيسان رح ( فقيه، راوي ، تابعي )
وقالَ قيس بن سعد رح : کان طاووس فينا مثل ابن سيرين رح في أهل البصرة ۔
قيس بن سعد رح به فرمائيل چې طاووس رح پۀ مونږ کښې داسې وۀ لکه څنګه چې ابنِ سيرين رح د بصرې پۀ خلقو کښې وۀ۔
تهذيب الکمال في أسماء الرجال (جمال الدين ابي الحاج يوسف المِزّي رح)

- سعيد بن المسيب المخزومي رح ( فقيه ، مُفسّر ، تابعي او د ابو هريرة زوم رض)

② عمر بن عبدالعزيز بن مروان رح (معلمُ العلماء ، فقيه ، مجتهد ، تابعي )

- عطاء بن ابي رَباح رح (فقيه ، عالم حديث، فقيه ، تابعي ، الحبر الزاهد )
- عامر بن شراحيل الشعبي رح (تابعي ، فقيه ، مُحدّث من السلف)

ابو ثور<sup></sup>رح پهٔ دغه لړ کښې دَ بغداد وهٔ ①
بل امام ، عبد الرحمٰن رح دَ اجتهاد وهٔ

پهٔ دا فن ابي ليلىٰ رح هُم بهــره مند وهٔ ②
دَ كــوفې سفيان ثوري رح پکښې څرګند وهٔ

بل احمد بنِ حنبل رح بحر عميـــق وهٔ ③
شافعي رح هم دَ تعبير دَ فن عقيق وهٔ

---

① ابو ثورابراهيم بن خالد البغدادي رح (فقيه، مجتهد ، مفتي العراق)
* عبد الرحمٰن بن عمرو الاوزاعي رح ( فقيه ومحدّث ، امام بيروت واهل الشام )
② عبد الرحمٰن بن ابي ليلىٰ رح (مفتي وقاضي الكوفه)
* سفيان ثوري رح (شيخ الاسلام ، محدّث ، مفسر)
③ احمد بن حنبل رح ( فقيه ومحّدث ، ورابع الائمة الاربعة ) بغداد ، عراق
تاليفات : المُسند ، فضائل الصحابة ، شرح اصول السّنة ، الورع ، احكام النساء ، العلل ومعرفة الرجال ، الرد على الزناقة والجهمية ،
* الزهد ، الناسخ والمنسوخ وغېره
* محمد بن ادريس الشافعي رح (فقيه ومحَدث ، وثالث الائمة الاربعة ، اديب وشاعر ) فلسطين
تاليفات : كتاب الامّ ، كتاب الرسالة ، كتاب اختلاف الاحاديث ، كتاب احكامُ القران ، كتاب اختلاف مالک والشافعي وغېره

چراغان ابو یوسف رح اؤ بـویطي رح وو ①
پتنګان پرې دَ دې علم ټول ستي وو

یؤ اسحاق رح وۀ ، بل منصورالمُعْتَمِر رح وۀ ②
عبد الله رح دَ مبارک هُم مُعَّبِر وۀ

یـو ټـولے دَ مُعَّبِـرو لۀ زُهاد دے
پۀ کُلهمه دنیا دغه ټولے یاد دے

یو بلخي رح پکښې استاد دَ خُراسان وۀ ③
بل مالک ابنِ دینـار رح هم درخشان وۀ

① ابو یوسف القاضي الکوفي رح (مجتهد ، محدّث ، علامه ، قاضي القضاة)
- یوسف بن یحییٰ قرشي بویطي رح (فقیه ، زاهد ، محدّث مصري)

② اسحاق بن راهویه خراساني رح (عالم الحدیث ، فقه ، تفسیر)
- استاد دَ امام بخاري رح ، امام مسلم رح ، امام نسائي رح او امام ترمذي رح
- منصور بن المعتمر السلمي رح (عالم و حافظ ، فقیه ، محدّث)
- عبد الله بن مبارک المروزي رح (مؤرخ ، فقیه ، محدّث ، مجتهد)

③ ابو علي شقیق البلخي خراساني رح (عالم ، زاهد ، صوفي)
- ابو یحییٰ مالک بن دینار البصري رح (ولد في ایّام عبدالله بن عباس رض)

هُم منصور ابنِ عمـــار^رح دَ خُراسان وۀ (۱)
پۀ تعبیر کښې ځلاند ستورے د آسمان وۀ

علم سْتر دَ مُحمّد بنِ واسِع^رح وۀ (۲)
پۀ دې فن کښې ئې کار کړے ډېر نافِع وۀ

بل یحییٰ ابنِ معاذ^رح دَ نیشـــاپور وۀ (۳)
چې پۀ وعظ او پۀ زُهد پُر معمور وۀ

یـۀ ټـولے ، مؤلفین دي پۀ تعبیر کښې
چې ئې مونږ ته فـن راغلے پۀ تحریر کښې

---

(۱) منصور بن عمار الخراساني^رح (واعظ ، صالح ربّاني)
(۲) محمد بن واسع^رح (امام الربّاني)
نافِع : نفع ورکونکے
(۳) یحییٰ بن معاذ الرازي^رح (من کبار المشایخ)

محمد بن سیریــن (رح) اعلی مقام وۀ (۱)
پۀ جعفر (رح) او پۀ جابــر (رح) علم تمام وۀ

هم ډېر ښکلي دَ دانیال (ع) دي تعبیرونه
سرچینې دي پۀ "وصول" کښې تفسیرونه

کۀ حافظ ابنِ اسحاق (رح) دَ هُنر غر وۀ (۲)
اسمٰعیل ابنِ اشعث (رح) هُم سمندر وۀ

بل پۀ دې هُنر کښې وتے کــرماني (رح) وۀ
یؤ لیکــوال ارطامیدوس الیــوناني وۀ

---

(۱) امام ابنِ سیرین (رح) (تالیف: تفسیر الاحلام)
یادګیرنه: دا هم وئیلې کیږي چې دَ "تفسیر الاحلام" اصل مؤلف ابي سعد عبدالملک بن ابي عثمان الخرکوشي النیشاپوري وۀ۔
(حواله: کتب حذر منها العلماء / حسن سلمان)

- امام جعفر الصادق (رح) (تالیف: کتاب التقسیم في تعبیر الحلم)
- امام جابر مغربي (رح) (تالیف: کتاب الارشاد)

(۲) حافظ ابن اسحاق (رح) (تالیف: کتاب بیان التعبیر)
- اسمٰعیل ابن اشعث (رح) (تالیف: کتاب التعبیر)

ابـو الفضل رح دَ دي فن عميق درياب وۀ
چې ليکلے ئې کاملُ التعبير ښکلے کتاب وۀ

مؤلف وۀ ، تابنـــده لکه هلال وۀ ①
قتيبي رح وۀ ، کۀ حسَن ابنِ خلال رح وۀ

پۀ تصنيف کښې نابلسي رح وۀ بې مثاله ②
عبد الله بن راشد رح وۀ ، باکمـاله

---

① ابو محمد عبد الله بن مسلم بن قتيبة الدينوري رح (دَ بغداد اؤ دَ اسحاق بن راهوية زده کونکے ) تاليفات : عبارةُ الرؤيا ، ادب الكاتب ، عيون الاخبار الشعر والشعراء وغيره ـ
- الحسن بن الحسين الخلال رح (تاليف غيرمطبوع )

② عبد الغني بن اسماعيل النابلسي رح (متصوف ، عالم بالدين والادب ، شاعر ) تاليفات : تَعْطيرُ الانَام فِي تَعْبيرِ الَمنام ،الحقيقة والمجاز في رحلة الشام ومصر والحجاز ، كفاية المستفيد في علم التجويد ، مناجاة الحكيم ومناغاة القديم ، ديوانُ الحقَائق ومَجْمُوع الرّقائق ،ايضاع الدلالات في سماع الالات ، خمرة بابل وغناء البلابل وغيره ........
- محمد بن عبد الله بن راشد رح ( تاليف :المَرْتبةُ العُليَا فِي تَعبيرِ الرّؤيَا ) نور تاليفات : النّظمُ البَديعُ في اختِصار التّفريع ، تُحفةُ اللبيبِ في اختِصارِ ابنِ الخَطيب ، لُبُّ اللُبَابِ وغيره ........

يؤ تولے دَ فلسفيانو پکښې شمار دے
چې تعريف دَ دوي پۀ هر طور پکار دے

بطليموس هُم پــوه پۀ علم دَ تعبير وۀ (١)
افلاطون ئې هُم دَ پيکر دَ مُلا تير وۀ

پۀ دا فـن کښې دَ بلخي هُم تاويلات دي (٢)
پۀ تعبير کښې دَ معنـو ئې اشارات دي

يــو تــولے دَ مُعَبِّــرو لۀ اطباء وۀ
دَ خوبونــو دَ تعبير سره اشنا وۀ

(١) د حسن بن الحسين الخلال پۀ کتاب" طبقات المُعَبّرينّ" کښې ئې نور وضاحت نشته چې دا کــوم بطليموس دے ، دا کتاب غېر مطبــوع دے خو پۀ نــورو تاليفاتو کښې ترې مواد نقل دے.
(٢) احمد بن سهل ابو زيد البلخي ايراني.

دَ بقراط اؤ دَ رازي علم ښکاره دے ①
جالینوس، بل بخشیتوع هم ورسره دے

یؤ طبقه لۀ یهودیانــو هم یادېږي ②
چې یو کعب ، بل اخطب پکښې نومېږي

یــؤ ټولے دَ مُعَّبِــرو نصــارىٰ دي ③
رسیدلي دَ خوبونـــو پۀ معنیٰ دي

یـــوه ډله پکښې شته دَ مجوسیانو
بله ډله پکښې شته دَ مشـــرکانو

یـــو ټولے لۀ مُعَّبِرو کاهنــــان وو
پۀ دا فن کښې تر خپل وَسه ماهران وو

① ابُقراط ، ابو بکر زکریا الرازي، کلودیوس جالینوس، جبریل بن بخشیتوع
② حیی بن اخطب ، کعب بن اشرف
③ نصاریٰ: نصراني ، مسیحي

يــوه ډله پهٔ دا فن کښې سَحَره وه [1]
يـــوه ډله دَ اصحابُ الفِراسَه وه

پهٔ ورغوي کښې خوبونه دا کتاب دے
دا دَعلم پهٔ کوزه کښې بند درياب دے

پټ دَ هر څيز حقيقت وي ښنانو کښې
دَ تبشير او دَ تحذير پهٔ حېرانو کښې

دا خو ستا پهٔ ما کرَم دے کـردگاره
چې منظوم مې تعبيرونه کړل بې شمـاره

احسانـــونه دي بې کچه پهٔ خيامؔ دي
چې سرسبـزه ئې باغونه دَ الهام دي

(١) سَحَره: ساحران ، جادوگران
اصحابُ الفِراسه : پېش بيني کوُنکي

(ب)

# (بابونه یا بابونج - ګُل)

یشـــولي چې دې ښۀ وي پۀ تـــودو کښې ①
انګبین سره بابُـــونه پۀ اوبـــو کښې

پس لۀ چانه پۀ معمول کښې چې ئې څښینه
پۀ زوړوالـي کښې برنا پرې سړے وینه **

دغه چائـــې ده مُجّـــربه التهاب له **
هم دوا دَ هډ کمـــزوري شېخ و شاب له

امیـــدواره دې لۀ دے نه ډډه کـــړینه
چې بې وخته دَ فصـــال سبب به شینه

---

① بابونه یا أقْحُوانُ : Chrysanthemum
اګاهو درې زره کاله زوړ بوټې چې رنګه رنګ ګلونه لري -
** برنا : ځوان ا التهاب : سوزش

پهٔ ګلونـــو کښې ګلـونه دَ بابــونو
تعبیرونه ئې ډېـر ښهٔ دي دَ خوبونــو

پهٔ تعبیر کښې ئې دَ ښځې استدلال وي[1]
داسې ښځه چې همه جمال جمال وي

ځنګه وضع چې پهٔ خوب کښې دَ دې ګُل وي
پهٔ تعبیر کښې هو بهُـو به تامُل وي

---

(1) الاقحُوان هو في المَنام صديق أو إمرأة جميلة - تعطيرُ الانام فِي تَعبير المَنام ( شيخ عبد الغني بن إسماعيل النابلسيؒ )

To dream that you gather white chrysanthemums, signifies loss and much perplexity; colored ones, betokens pleasant engagements. To see them in bouquets, denotes that love will be offered you, but a foolish ambition will cause you to put it aside.

**(What's in a Dream?, 1901 || Gustavus Hindman Miller)**

Perplexity : Confusion, puzzlement
Betokens : Be a warning, indication of or be a sign of.
Ambition : Intention, aim or aspiration.






Lipton
لپټون

# ( باتینګڼ یا باتِنجان )

چې اغیـــزې ئې پهٔ ضد کښې دَ سرطان وي
پهٔ سبـــــزو کښې یو سبـــزي دَ باتنجان وي

امروزه چلن دَ وینـــــــې ښهٔ کـــوي دا (١)
کولیستـــرولو کښې کمے هم راولـــې دا

کهٔ دا خشک وي او کهٔ تر وي او کهٔ خام وي
تعبیـــــــــرونه ئې پهٔ غم اندوه تمام وي

خوب ئې ښهٔ دے کهٔ وېسا ئې پهٔ تعبیر کړې (٢)
چې پلــورل دَ باتېنګنـــو پهٔ تدبیر کړې

---

(١) (Megan Ware RDN) د تغذیې د پوهاوي متخصصه۔

(٢) وېسا : اعتبار ، باور۔

کهٔ دَ کوره چرې لړه باتنجان کړي
نو دَ غم لړۍ به لړه پهٔ ډېران کړي

کهٔ پهٔ خوب کښې ترې نه وخوري يو نمړۍ
دغه کَس به شي اخته پهٔ پرېشانۍ

# ( باجه )

خسته روحه! پهٔ خوبونـو کښې وبا ده
څنګه وايې؟ موسيقي دَ روح غذا ده

زنګ دَ روح چرته پاکېږي پهٔ باجو
غم دَ سختو تعبيرېـــږي پهٔ باجو

ستا رازونه که پهٔ سلو غوټو بند شي
پهٔ تعبير ئې دَ سرود به راز څرګند شي

زمزمه کۀ ورســـــره دَ مُغنّي وي
پهٔ تعبيــر کښې غم الم به يقيني وي

رسوائي به ئې اٰبرو کړي ګارې وارې
دا چې ښځې وي پهٔ خوب کښې باجه مارې

که په خوب کښې چرته ریډ دَ باجې مات شي[1]
نو تعبیر ئې لهٔ غمونـــــو نه نجات شي

---

[1] (Harmonium Reed)
ریډ د باجې سُرونه وي -

# ( بادشاه ) [۱]

کۀ اسمان پۀ خوب کښې راشي ستا پۀ ښۀ
شي بېـــــدار به دې قسمت اودۀ اودۀ

کۀ خطبه دې پۀ منبـــر دَ پاک رسول ﷺ وي
يا علوم دَ شـــريعت کۀ دې قبـــول وي

کۀ دې ستـــرګه پۀ تمثال لکه دَ غوا وي
يا طالـــع دې امامت کۀ پۀ روّيـــا وي

انګُشتـــري دَ سليمان کۀ دې جوهـــر شي
يا دَ مرِ باچا ګـــوتمه پۀ ګـــوتو در شي

يا ليدلې دې خپل ځـــان لکه مهتاب وي
يا دې ستـــرګه دَ جامع جُمات محراب وي

یا وجود دې بې پایـــــاوه سمندر وي
یا دې ستـــرګه دَ ښارونـــو کۀ جدر وي [1]

دا هــــر څۀ کـړي دلالت پۀ دې خبره
تاج و تخت به دې نصیب شي زوروَره

دغه څـــو مې درته شعر کـــړل همدمه
کۀ بادشاه شـــوې نو سلام لۀ به درځمه

(۱) جدر: دېوال

# ( بادشاه )[۲]

پهٔ تسخیر کښېِ کهٔ یو ملک دَ بادشاه راشي
نو ښــــارونه پهٔ تعبیر کښېِ به تالا شي

رعایا کهٔ پهٔ اورونــــــو شاه جلیا کړي
پهٔ تعبیر کښې به ښېرې او بد دعا کړي

دَ ستائینـــې به پرې دا ګلونه نُولي
رعایا کهٔ پهٔ ګلونـــــو باچا وُلي

ګنګوسې کهٔ څوک پهٔ غوږ کښې دَ باچا کړي ①
نــو اجل به ئې دَ ژوند بـــوتے دړیا کړي

① شداد بن اوس چې کله د خپل سلطنت او مصنوعي جنت دوره کـوله نو ملک الموت ورته راغے او پهٔ غوږ کښې ئې ورته څهٔ ګنګوسې وکړې او بیا روح ئې ترېنه واخست -

دَ باچا سره کۀ خوب کښې دستار ښائي
نو اولس ئې پۀ اوصافو باندې ستائي

کۀ پۀ خوب کښې پۀ بستر باچا اُلټه شي
یقیناً چې تخت دَ دۀ به اپوټه شي

کۀ پۀ خوب کښې دَ باچا دَ باغ بلبُل شي
توکُل دې همه کُل ساتي ، چې کُل شي

مُقرّب به دَ باچا شي ، پۀ خطر کښې
چې لغړ وي دَ باچا سره بستر کښې

خواصي کۀ شي پۀ خوب کښې دَ شاهانو
خاص بنده به شي پۀ صف کښې دَ بندیانو

حکومت به ئې قوي شي استحکام کښې
چې بوډا دَ شاه پۀ تخت ناست وي منام کښې

کۀ نیــــولے یو باچا ټینګه رسۍ وي[1]
پۀ تعبیر کښې فیصلې دَ راست ګویۍ وي

کۀ لیدلے دې باچا چرته وفات وي
نۀ دَ غُسل او کفن انتظامات وي

داسې خوب پۀ تعبیرونو کښې خراب دے
هنګامه ده ، اندېښنه ده ، اضطراب دے

دَ ملوکې دَ جماع به څۀ تعبیر وي؟
اختلاط به وي، نشاط به وي یا ویر وي

---

① وَاعۡتَصِمُوا بِحَبۡلِ اللّٰهِ جَمِیۡعًا - سورة العمران ۱۰۳
(او منګولې ولګوئ پۀ رسۍ دَ الله)

# ( باد )

چې خوبـــونه دَ عالم وي پۀ حېرت کښې
تعبيرونه به دَ باد وي پۀ حُجّت کښې

ښۀ سرکش کۀ دَ هوا تُندې چلن وي[1]
نـو تعبير ئې وېره تـــرهه پۀ وطن وي

مُور ملخ او وُنې بـوټې کۀ خراب کړي
نوسرطان مرَض به ملک کښې ګډ عذاب کړي

تاريکـي کۀ دَ هوا ســـره خـوره وي
پۀ تعبير کښې دا ژوندون له انديښنه وي

---

(۱) وَأَمَّا عَادٌ فَأُهْلِكُوا بِرِيحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ - (سورة الحاقة ٦)
هر چې عاديان وو ، نو دوئي پۀ ډېر سخت اواز، لۀ حده وتونکي باد سره هلاک کړې شول-

دَ هوا پۀ تخت کۀ دُور دراز سفر کړې
پۀ سفـر ، دَ مرتبې لارې به سر کړې

پۀ فاني دنيا کښې څو ورځې مهمان ئې
پۀ تېز باد کۀ دَ اسمـان پله روان ئې

کۀ دې زمکې ته باد راوړي لۀ اسمـانه
دَ رنځونـــو نه شفا ده پۀ ما ګـرانه

# ( باد پکې یا ببوزے )

پۀ ګرمۍ کښې دَ بـرق نیشت بده بلا ده
مرغُزار مې دَ وطن دارُ البلا ده

غریبان پکښې ببـــوزي ته پرېشـانه
بعضې بعضې لکه صُبح وي خنـدانه

ځان ځانــي ده او قیامت لۀ حاکمانو
نشته نشته څۀ راحت لۀ حاکمانو

پۀ هوا کښې چې کاکُل کله پرېشان شي
پۀ خوبونو کښې ببوزے "اطمینان" شي

٤-٦-٢٠١٦

# ( بادام )

کوم یو نقص اوکوم عِلّت چې دَ مزغو دے
پهٔ بادام کښې ئې علاج دَ بیمارو دے

چې یوڅو دانې بادام خورې پهٔ سحر کښې
دَ هغوئ به وي قــوي حافظه سر کښې

سوَب ګـــرځي دَ چـــربۍ دَ زیاتېدلو
پال کـــوه کهٔ دې وي نیّت دَ کمېدلو

دَ بادام حصول پهٔ خوب کښې لهٔ درخته
حاصلېږي به نعمت روزي پهٔ سخته

بې لۀ پــوسته کۀ ليدلے دي بادام وي [1]
نــو راتلۀ به دَ اموال ښۀ پۀ آرام وي

دَ پوستکي بادام خوب کښې مُشقت دے
داسې خوب لۀ ډېرو سختو عبارت دے

---

① وأما اللوز فيؤول على مال ونعمة، وإذا كان في قشره فمال بمشقة، وإذا كان قلبا فحصول مال بسهولة -
(امام اِبن سيرين رح)

## ( بادرنګ )

چې ئې ذکـر په حديث کښې هُم وارِد دے [1]
په خاصه کښې هُم طيّب دے هُم بارِد دے

چې حامله ساقطېـــږي نو حمَل دے
په تعبير کښې پېش ګوئي دَ دغې حل دے

چې ليدلے دې په ونه کښې بادرنګ وي
نو ګراني به په وطن کښې په غورځنګ وي

دَ بادرنګو دَ پټـې تعبير غنا ده
ملکيّت ئې اميــري ده اؤ عطا ده

---

(1) بادرنګ په وينه کښې دَ صفرا خرابي لرې کوي، تنده ماتوي ،بادرنګ په مزاج کښې يخ دے ، اؤ دَ يخ مزاج خلقو دَ پاره نقصاني دے ، يو پوهان ليکلي دي کۀ چرې بادرنګ دَ ماشوم سره په څادر کښې دننه کېښودې شي نو دا تبه جذب کوي - ( طبِ نبوي / امام ابنِ قيمؒ )

- رسول اللهؐ به بادرنګ دَ لواندۀ کــجورو سره خوړل - (صحيح البخاري)

بې موسمه دَ غمونـو پېش خېمه شي ①
پهٔ تعطیرکنبې دَ سړي نه جوړ قېمه شي

① تعطیر : اثر ـ

د گوستاوس یو څو تعبیرونه :

To dream of cucumber is a dream of plenty, denoting health and prosperity. For the sick to dream of serving cucumbers, denotes their speedy recovery. For the married, a pleasant change.

**What's in a Dream?, (Published : 1901) Gustavus Hindman Miller (1857-1929)**

Prosperity : Wealth, success or the state of being prosperous.

# (بار ،بوج یا پیتے)

ګنـــاهونه دَ ځپاند دریاب پۀ موج شي
در پۀ سر که پۀ خوبونو کښې څۀ بوج شي

بل اشکال ئې پۀ تعبیر کښې بد ګاونډ وي
انبارونه کۀ پۀ خوب کښې چاته پنډ وي

کۀ پۀ خوب کښې چرته ښځه وي بارداره
نو تعبیر ئې دَ ګُل بوئ وي لۀ ګلزاره

یا تعبیر دَ داسې خوب شریر خاوند وي
بد خوئي به ئې وَ ښځې ته څـرګند وي

کۀ پۀ خوب کښې اوچت کړے چا نفَر وي
دَ مفعول تعبیر خوښي ، دَ فاعل شر وي

کۀ راخستې دې ګېډے دَ غر پۀ سر وي
یا خشاک دې پۀ اوږه وي یا کمر وي

نو توضیح ئې پۀ تعبیر کښې غمازي ده
دَ تګ ژنو پۀ یارۍ کښې تګ بازي ده

دَ روژې میاشت

۲۱-۰۶-۲۰۱۶

# ( باران )

باغ و راغ کۀ مُعّطـــر پۀ باران شینه
ورســـره نـرے نـرے شمـال رائینه

پۀ لیدونکي بشــارت دَ بـــــرکت وي
بارانونه چې پۀ خوب کښې دَ رحمت وي

کۀ دَ بـــــرق پۀ شغله گـــرم شبستان وي
یا پۀ خوب کښې پۀ شدّت باد و باران وي

پۀ تعبیر کښې به رنځونه دې ښۀ زوري
کله کله پۀ بـــاران کښې زحمت ووري (١)

دَ باران پۀ اوبـو مسَح کۀ څوک کړینه
لۀ غمونـــو به حتماً پۀ امن شینه

(١) باران دې وي سیلۍ دې نۀ وي
سیلۍ نامراده ورانوي پاخۀ کورونه

کهٔ اواز وي دَ بـــاران پهٔ ورېدو کښې
علامت دے دَ عزت پهٔ زياتېدو کښې

دَ وګړو پهٔ سرونـــو کهٔ طوفـان وي
پهٔ تعبير کښې به مرګــونه ناګهان وي

کهٔ څوک وخښي دَ بـــاران خوړې اوبهٔ
نو پهٔ قـــدر به دَ ښـــو مومي څهٔ ښهٔ

کهٔ ګنده اوبهٔ څوک وخښي پهٔ چېتر کښې
دَ دې خوب تعبير ئې غم دے پهٔ تبر کښې

انګبين کهٔ پهٔ بـاران کښې را ورېـږي
پهٔ نعمت او فـــــراغت به تعبيرېـږي

نور خوبـــونه تعبيـــرونه دَ جعفرؒ دي
تعبيـرونه څهٔ دَ خېر او څهٔ دَ شر دي

آفتـــونه پهٔ صدقاتو پهٔ شا کېــږي[1]
ښهٔ کارونه پهٔ توفيــق او همّت کېــږي

[1] إنّ الصّدَقَةَ لَتُطفِئُ غَضَبَ الرّبِّ وَتَدفَعُ مِيتَةَ السُّوء ـ ( جامع ترمذي )

د ګوستاوس يو څو تعبيرونه :

To see it raining on farm stock, foretells disappointment in business, and unpleasantness in social circles.Stormy rains are always unfortunate. To dream that your house is leaking during a rain, if the water is clear, foretells that illicit pleasure will come to you rather unexpectedly; but if filthy or muddy, you may expect the reverse, and also exposure.

**What's in a Dream?, (Published : 1901)**
**Gustavus Hindman Miller (1857–1929)**

Illicit : illegal or forbidden

Exposure : the state of having no protection from something harmful.

# (بارخو او مخ)

کۀ سُرخي دي پۀ بارخو کښې راټوکېږي
کامګاري او سرلوړي ترې څرګندېږي

کۀ جبين دې ښائسته ډک دَ رڼا وي [1]
نو تعبير به دَ دې خوب ستا دَ ښکلا وي

مخ روڼے به ښـــــانه دَ حيادار وي
پۀ تعبير کښې تْريو تندے دَ غم آثار وي

عاشقـي او يا ذلت به ئې تعبيـر وي
ګـونه زيړه چې نيولے چا پۀ وير وي

دَ تـــور مخو وجودونه کۀ رڼا وي
نـو باطن ئې لۀ ظاهرې نه صفا وي

---

(١) وَأَمَّا الَّذِينَ ابْيَضَّتْ وُجُوهُهُمْ فَفِي رَحْمَةِ اللّٰهِ - (سورة آل عمران ۱۰۷)

دَ زړهٔ کور به ئې همه واړه تک تور وي ①
دَ سپین مخو وجودونه کهٔ دَ سکور وي

دَ حاملې اننګې کهٔ تور سیاه وي ②
نو پهٔ زیرې دَ جینۍ کښې ، دې اګاه وي

کهٔ دَ ښځې مخ پهٔ دېګ باندې تک تور شي
پهٔ دنیا کښې دَ خاوند به ئې کوَت خور شي

موسېدلے مخ پهٔ خوب کښې نېک حالات وي
خنده رویه ماشـــــومان به برکات وي

① من آنم که من دانم

پهٔ ظاهر کهٔ وَ عالم ته ښهٔ ښکارېږم
پهٔ باطن کښې ترهر چانه شرمسار یم
شرمنده پهٔ خپلو پښـو لکه طاؤس یم
کهٔ نـور خلقو ته پهٔ نقش و پهٔ نګار یم (عبدالقادرختک-ګُلدسته)

دَ اشرافو پهٔ لباس کښې دَ اشرارو نه خبر شئ
یعنې پته بدرنګي ده پهٔ ظاهره رنګینۍ کښې (عبدالرحیم روغانے)

② وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِالانثَىٰ ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًا وَهُوَ كَظِيمٌ ۔ (سورة النحل ۵۸)
او کله چې خبر ورکړے شي یو تن د دغو ته په پېدا کېدو دَ لور سره نو وګرځي مخ دَ دهٔ تک تور لهٔ غمه ۔ حال دا چې دے ډک وي لهٔ قهره ۔

حشمتـــونه چې دَ ژوند پۀ اوږو تم شي
چې غُبار ئې پۀ مخ پرېوځي عزت کم شي

کۀ دَ مخ غوښه معدوم شوه دَ لاغرو ①
داسې خوب به تعبيرېږي پۀ سوالګرو

استفهام وي پۀ تعبير دَ بــزرګانو
پۀ مخونو نښـانـــې دَ آدميانو

علامت ئې دَ اخلاقـــو پۀ غُربت وي
پۀ ښـائسته مخ کښې چې کله قباحت وي

① مَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَسْأَلُ النَّاسَ حَتَّى يَأتِيَ يَوْمَ القِيَامَةِ لَيْسَ فِي وَجْهِهِ مُزْعَةُ لَحْمٍ ۔
همېشه يو سړے چې سوال کوي دَ خلقو نه ، تر دې چې رابشي پۀ ورځې دَ قيامت، چې دَ هغه پۀ مخ به يو پـوټے غوښه نۀ وي ۔
(متفق عليه )

❖ مَنْ سَأَلَ النَّاسَ أمْوَالَهُمْ تَكَثّرًا فَإنَمَا يَسْأَلُ جَمْرًا فَلْيَسْتَقِلَّ أوْ لِيَسْتَكْثِرْ ۔
چاچې سوال وکړو دَ خلقو نه پۀ وجه دَ ډېروالي نو دې دَ خلقو نه دَ اور سکروټکي غواړي ، اوس دَ دۀ خوښه ده کۀ ډېروي ئې او کۀ کموي ئې۔
(مسلم ، ابن ماجه ، احمد )

کۀ پۀ خوب کښې ئې صورت دَ ګاؤخر شي
پۀ تعبير کښې ايره دين دَ خاکستر شي

کۀ پۀ خوب کښې ئې مخونه چرته دوه وي
خاتمه دَ داسې کس ناکس نابنه وي

کۀ مخونه ئې پۀ خوب کښې لۀ دوه زيات شي
پۀ تعبير کښې ئې مُرتد ته اشارات شي

سينګارونه دَ ګُل رُخه څۀ سُراغ وي؟①
پۀ تعبير کښې دَ خاوند حال ئې فراغ وي

① سراغ : نخښه ، درک ـ

# ( باز )

پهٔ فارسی ئې بـــــازنامه دَ هنـــر ګـوره
پهٔ پښتـــــو ئې راته راکړو نظم وروره

کهٔ ئې ګورې دَ هر شي وَ ښکار ته ساز وهٔ
علامه چـــــرته خبر پهٔ باتـــــور باز وهٔ

دَ خو شحال خټک مثال پهٔ هندو بار کښې
بــې بدله وینم زهٔ پهٔ دا دِیـــــار کښې

تعبیـــــرونه دَ بازونـــــو به کشید کړم
پهٔ پښتـــــو پاتـــــې کارونه به مزید کړم

چـــې تعبیـــر وَته مـزاج زما مائل شو
وَ هـــر خـوک پهٔ ساحـری زما قائل شو

کهٔ پهٔ خوب کښې درته چا بخښلے باز وي
پهٔ تعبیر کښې به دَ نـر بچي جواز وي

کهٔ بازونه چـرته ناست دَ کـور پهٔ چت وي
نو ثمـــــر به دَ فائدې او مَنفَعت وي

کهٔ پهٔ ښه کښې دَ باز سرهٔ وي او یا زر وي
دا به زیـــرے دَ راتللو دَ دُختـــر وي

کهٔ نیولے دې کته وي یا جُره وي
چې پهٔ ذات کښې هُم مطیع وي هُم کرَه وي

مـرتبه او سـرلوړي ده پهٔ تعبیـر کښې
دَ سیرین دغه معنیٰ ده پهٔ تفسیر کښې

کهٔ پهٔ خوب کښې چرته باز دَ لاسه لاړ شي [۱]
پهٔ آهونـــــو او غمونـــــو به لتاړ شي

۱ ساتلے باز مې رانه لاړ شو
اوس کهٔ ارمان پسې کوُم نهٔ ئې مومه

پهٔ تعبیر کښې سرخُوړي دَ مور پدر وي
ناخلفه باز پهٔ اصل کښې پسر وي

کهٔ وژلے عهدې دار وي باز پهٔ خوب کښې ①
برطرف به شي لهٔ کاره پهٔ اشوب کښې

داسې خوب کهٔ سلاطینـــو وي لیدلے
نو تعبیر ئې دے زوال ، پهٔ زړهٔ نتلے

① علامه ابنِ سیـــرین رح فرمایي
" أقـوى الطير وأرفعها في الطيران وأحدها بصراً وأطـولها عمراً "
چې پهٔ تـــولو مارغانو کښې باز قوي وي ، نظـر ئې تېز وي ، او عمر ئې هم زیات وي او سلیمان ع پهٔ مارغانو باز مقرر کړې ؤ ـ

اشوب ، الغاؤ تلغاؤ

# ( بازار )

یا به ګټه ، یا تـاوان وي پهٔ بازار کښې
دَ سـړي دَ عمومي ژوند پهٔ روزګار کښې

پهٔ نرخونـو کښې زیاتے سراسر سود وي (١)
درغَلي کهٔ دې پلـورلو کښې مقصود وي

کهٔ پهٔ خوب کښې دکانونه فارغ بال وي
یا اودهٔ دَ دې بـازار واړه رجّال وي

دَ نېستۍ ګـوډي پـراتهٔ پهٔ هر دېوال وي
یا دننه هـر دکـان دَ جولاجال وي

---

(١) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِي اللهُ عَنهُمَا قَالَ:نَهَى النَّبِيُّ صَلَى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَمَ عَنِ النَّجْشِ ـ
النَّاجِشُ آكِلُ رِبًا خَائِنٌ ، وَهوَ خِدَاعٌ لا يَحِلّ . قَالَ النَّبِيُّ ﷺ:اَلخَدِيعَةُ فِي النَّار
وَمَنْ عَمِلَ عَمَلاً لَيسَ عَلَيْهِ اَمْرُنَا فَهُوَ رَدّ ـ
(صحيح بخاري ،دوېم جلد ، بابُ البُيُوع )

نو تعبیر ئې خســـاره ده ، او تاوان دے
دَ معاش دَ بند شونـــو دا نښـــان دے

کۀ لیدلے دې بـــازار کښې کُلالان وي
چې چاکـونه وي ، کـودري ، ټپراګان وي ①

یا دنده پۀ دې بازار کښې دَ منګو وي
یا دَ ختــو دَ خاورین لوښو ،کودو وي

پۀ کمزوري معیشت دې خبـــردار وي ②
چې وَ څوک دَ ډېرې نفعې طلبګار وي

کۀ پۀ خوب کښې لۀ بـازاره چرته غلا شي
نـــو تعبیر به خیانت دَ دې رویا شي

① ټپراګان : هغه آله چې لوښې پرې هوارېږي -
② تعبیرِ خیام ، تمثیلي تعبیر -

کۀ حاجي وي ، فريضه ئې شي برباده
کۀ عالم وي ، عريضه ئې شي برباده

يا تعبير ئې دَ مونځونـــو دَ غلاګر وي ①
چې نـاقصه ئې مونځونه مختصر وي

بــازارونه کۀ خالي وي يا بـــرباد وي
نو تعبير دَ داسې خوب فرياد فرياد وي

دا دَ عطــرو بـــازارونه به اولاد وي
ښۀ خبر او يا به ښځه پـــرې زاد وي

① إنَّ أسْوَأَ النَّاسِ سَرِقَةً الَّذي يَسْرِقُ منْ صَلاته ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ وكَيْفَ يَسْرِقُ مِنْ صَلاتِهِ ؟ قَالَ : لا يُتِمّ رُكُوعَهَا وَلاَ سُجُودَهَا .

پۀ خلقو کښې بد ترين غَل هغه دے چې لۀ مونځ څخه غلا کوي ، ورته ووئيلې شو چې يا رسول الله دَ مونځ غلا څنګه وي ؟ نـــو وې فرمائيل چې رکـــوع او سجده سهي نۀ پوره کوي نو دا دَ مانځه غل دے .

الترغيب والترهيب ǁ راوي : ابو قتاده الانصاري .
مؤلف: عبد العظيم بن عبد القوي المنذري.
مُحقق : ناصر الدين الاباني ǁ اشاعت : كال ١٤٢٤ هجري .

دَ رنګونـــو بازارونه به کوژدن وي
یا وادهٔ ، یا خوشحالي دَ مرد و زن وي

دَ تُخمونـــــو محلونه ارفعّیت وي
چاپ خانه پهٔ تعبیرونو کښې صحت وي

صرافۍ به پهٔ تعبیر کښې مالداري وي ①
دَ خوږو تـــول بازارونه دینداري وي

دَ زرګـــرو پلورنځي به آرائش وي ②
دَ پیتلو بــــــازارونه آزمائش وي

دَ سپین زرو بــــــازارونه انتقام وي
یا به مرسته دَ مظلــوم دَ انتظام وي

① صرافه : د پیسو د راویستو مشین یا ټکانه ـ
② آرائیش: سینګار ، سمبالونه ـ

دَ حجامو دوکانــــــونه دي غمونه
پرېشـاني ده ، بيمـاري ده او قرضونه

دَ وسلې بازار جګـړه ده يا جنګ دے
دا دَ غوښو بازار شخړه ده يا جنګ دے

کتابـــونه چې څوک پلوري هدايت دے
يا توبه وي ، يا منصب يا حکومت دے

دَ کبانــو بــــــازارونه فائده مند وي
دَ خپلوانــو پهٔ ليدو به بهره مند وي

کهٔ مېلـــې چرته کښې وي دَ ځناورو
پهٔ تعبير کښې ئې سفر وي دَ اکثــرو

کهٔ اتې چرته دَ اوړو وينې پهٔ خواب کښې
نو دَ وېـرې نه به امن وي جواب کښې

دَ لرګو پهٔ بازارونـو کښې تفريق وي
دا دَ وسپنــې بازار دَ غم فـريق وي ①

دَ هنـــــدارو بازارونه چُغل خوار دي ②
يا اخته پهٔ داسې خوب کښې رياکار دي

۲۷-۰۸-۲۰۱۶
خپل کور ، منفوحه

① وسپنه : دَ نورو تعبيرونو دَ پاره وګورئ وړومبے ټوک مخ (۱۹۰) -
② هنداره : دَ نورو تعبيرونو دَ پاره وګورئ وړومبے ټوک مخ (۲۰۱) -

ورک شه مخ دَ چُغل خور او غيبتي
ترې خورېږي پهٔ وطن کښې پليتي
غيبتي او چُغل خور داسې سړے وي
چې ترې نهٔ وي بل سپېرهٔ او لعنتي

(عبدالرحيم روغانے)

ځان ورپکښې کړ وينو يا وينو ځان دَ ځانه غټ
ورونيو دَ نن وخت ائينې هُم منافقانـــې شـوې

(عبدالرحيم روغانے)

# ( باغ )

علامت دَ بعضې باغ به استغفار وي
هُم مضمر ورپکښې دغه اِستفسار وي

پهٔ تعبیر کښې ئې بخښنه، زوے یا مال دے[١]
خجالت کهٔ ورسره دَ خپل اعمال دے

بله شرح ئې پهٔ خوب کښې ده عورته
معلومېږي دَ خوبونو لهٔ هیئته

---

١ فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّاراً ٥ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَاراً ٥ وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَاراً -
نو اووېیل ما دوی ته، بخښنه وغواړی لهٔ خپل رب څخه بېشکه هغه دے بخښونکے ٥ را ۇ وروي به پهٔ تاسو باران ډېر ورېدونکے ٥ او کومک به کوي ستاسو پهٔ مالونو او پهٔ زامنو سره ، او ۇبه ګرځوي ستاسو دَ پاره باغونه او ۇبه ګرځوي ستاسو دَ پاره نهرونه - ( سورة نوح )

که پهٔ خوب کښې درنه وچ شو چرې باغ
بار پهٔ تا دَ حـــق تلفۍ به شي انداغ*

جدائي ترې هم جوَتېـږي پهٔ تصبير کښې*
استحصال ترې څرګندېږي پهٔ تعبير کښې

کهٔ ئې باغ ترو تـــــازه وي پهٔ ساتنه
ساتندويه دَ عيـــــال به وي دَ زړهٔ نه

کهٔ څوک وَتـر دَ بل باغ کړي يا اوبهٔ کړي ①
يا وله کښې ئې دَ بـــاغ متيازې وهٔ کړي

دَ زنا دَ ارتکاب نه دې آګاه شي
يا دَ ښځو پهٔ مېلان به اِنتبـاه شي ②

---

* انداغ : پېټے، بوج || تصبير: شرح ، دَخوب تاويل۔
① وتر : دَ يوې کولو جوګه زمکه ، لوندوالې ۔
② انتباه : خبردارې ورکونه ۔

نا معلومه باغ ته تلل دَ غم نښان وي
سازې چارې به ناسازې پهٔ انسان وي

برطرف پرې سلاطين شي لهٔ کرسو نه
فارغ بال کړي ډېرې ښځې دَ عهدو نه

کهٔ ئې ونې نامعلومې وي ، شدّت دے
دا جنګونه دي شرونه دي زحمت دے

نامعلومه باغ ليدلے کهٔ بيمار وي
نو تعبير ئې دَ جنت او دَ انهار وي (١)

خصوصاً چې پهٔ چمن کښې حورُالعين وي (٢)
يا دَ شاتو ، يا دَ پَيو پکښې عين وي

(١) انهار : ولې يا چينې -
(٢) حورُالعين : مجازاً غټو سترګو والا يعنې حوره -
عين : چينه ، وله يا نهر -

دَ معلومې باغ خروج پۀ نکاح کېږي
ملکيّت پۀ مرتبه ئې تعبيرېـــــږي

بې موسمه باغ ، فراق او افتراق دے [1]
چې شدّت ورسره پائي نـو طلاق دے

پۀ موسم کښې ثمرَه چې ترېنه خورينه
برکت ئې رب پۀ رزق کښې واچوينه

کۀ دې مړے وي ليدلے پۀ بـوستان کښې
نو جنت دَ مړي ځائې وي ګورستان کښې

چرې باغ کۀ ملکيّت دَ يـــو خنزير وي
نو ظالم ، جابـــر باچا به ئې تعبير وي

(۱) افتراق : جدائي .

دا چې باغ ؤ دَ ګلونو او مابنام وۀ
ورسره دَ ساقي سُرو ګوتو کښې جام وۀ

دا چې پټ شو پۀ نسیم کښې بهر لاړو
دَ جانان خواله دَ مینې نظر لاړو

پۀ دې خوب کښې وه پرته یوه مانه
چې لیدلو غني خان پۀ جېلخانه

نو عالمه ! دَ دې خوب دغه تعبیر وۀ؟ ①
دَ زندان نه دَ وتو پکښې تبشیر وۀ

دَ عرفې ورځ نهمه ذي الحجة
۱٤۳۷

۱۱-۰۹-۲۰۱٦

① تعبیرِ خیام
خوب وینم عالمه که ئې څوک راکړي مانه
دَ غني خان دَ جېلخانې دَ خوب نظم - حېدر آباد جیل (1948)

# (باغوان ، ماليار)

پهٔ تعبیرکښې شي اطلاق پهٔ خدمتګار
مشـــاطه وي ، یا بالکې دَ خان مالدار

ګردواره ، مندر ، ګــرجه او رباطات
یا خادم دَ مدرســې وي یا جُمـــات

## ( بانګ )

دَ بانګ دَ پاره وګورئ
وړومبے توک تعبيرونه دَ "اذان"
مخ ٦٩

## ( بانګي )

اور اوبهٔ کله یو ځائې سره چلېږي
پهٔ بانګي باندې اطلاق دَ عجم کېږي

همېشه دَ عجمي سړي اطلاع وي
پهٔ تعبیر کښې دَ بانګي ټونګې نزاع وي

تکَلُم دَ عبث خلقو هم مُطلق وي
چې پهٔ چغو دَ بانګیانو مُستغرق وي

چې پهٔ روئي او پهٔ رویش کښې ئې تضاد وي
دَ بانګي نه دو مخي به هم مراد وي

سپین بانګي به مؤذن وي پهٔ آثبات کښې
یا قاري وي یا خطیب وي پهٔ جمات کښې

پهٔ تعبیر کښې سور بانګې هوَس انګېز وي (۱)
یا ناپاک او بې حیا لکه انګـرېز وي

یو تعبیر ئې آدم کُش لکه چنګېز وي
چې پهٔ جنګ کښې مړنے وي او خون رېز وي

---

(۱) تعبیرِ خیام
دا توجیهات د غني بابا پهٔ لاندیني علامتي "چرګ" نومې نظم کښې ښکاره پهٔ نظر راځي :

خوراک کوے دَ سپي — او مسئلې دَ ملایـــانو
بانګـــــــونه دَ بلال — او لنګوټې د چنګنیانو
پرتوګ دې یـاره نشته — خو شمله نېغه دَ خان
شل ښځې دي ساتلې — خو سحر وائې اذان
پهٔ جنګ کښې بهــادر — او مستــانه لکه چنګېز
پهٔ مینه کښې بې شرمه — بې پـروا لکه انګرېز
اوربوز دې دَ قاضي دے — طبیعت دې دَ هټلر
آواز دې د پخنو دے — او انداز دَ منسټر

انجام دې تبخے دے
اے مجنـونه دَ ډېران
یو ورځ به وروستے بانګ
وکړې ډوډی به وکړي خان

کله کله مُحافـــــــظ یا پېره دار وي
یا شهوت کښې شهوتي لکه دَ نار وي

ډېرو ښځو ته خواهش چې دَ چا کېږي
په تعبیر کښې نکاحونه جوَتېـــــږي

که په خوب کښې ثوک بانګې حلالوینه
نو دَ بانګ جواب به، دے نهٔ ورکوینه

که بانګې دي وي نیولے په توکرۍ کښې
نو په صلح تعبیرېـــږي زندګۍ کښې

مزید :

To see a rooster in your dream symbolizes masculinity, pride, valor, cockiness and arrogance. It indicates that you or someone is being a show-off with little or no regards for others. Alternatively, the dream highlights your eccentricities or wittiness. The dream may also be a pun on the penis. To hear a rooster in your dream signifies bragging and self-glorification.
To see roosters fighting in your dream suggests that you are involved in some bitter rivalry.

**(Dreammoods.com)**

Masculinity : Quality of manliness

Eccentricities : An act or habit that is strange or unusual.

# ( بانۀ )

کۀ پۀ سپوري دَ ښــو لاندې مالدار وي
پۀ مالونو کښې به غبن دَ دۀ کار وي

داسې خوب کۀ دَ عالِم او دَ پــوهاند وي
نو پۀ چارو کښې بهانده وي او تاند وي

رنګ کۀ سپین شي او یا زیړ شي دَ ښــو
غـاښې ختــې به شـــي مړې دَ پرګنو

کۀ پۀ خوب کښې دَ ښو پۀ څوکو نم وي
ښائـــي دا چې نور غمونه به ئې کم وي

بې ښوسترګې کۀ خوب کښې غړوے شي
عمارت به دَ اعمـــالو نړوے شي

۲۸-۱۰-۲۰۱٦

# ( باهو ، کنګن او بنګړي )

دَ ارتينو لاس کۀ ډک شي پۀ زېورو
درناوے ئې پۀ تعبير کښې دے ملګرو

باهوګان ، بنګړي ، کنګن او زېورات
پۀ تعبير کښې دَ عظمت وي علامات

دَ حاملـــې غېږه ډکه پۀ فــرزند شي
پۀ وادۀ نا وادۀ کړي ارجمند شي

داسې خوب کۀ دَ ســړي پۀ برخه ور شي
کېفيّت ئې پۀ تعبير کښې به بد تر شي

کۀ دَ سرو بنګړي پۀ لاس کښې دَ سړو وي
نو غمــونه پۀ قياس کښې دَ سړو وي

کۀ دَ سپینو باهوګان وي دَ مردانو [1]
پۀ تعبیر کښې به لوئې شان وي دَ مردانو

۲۸-۱۰-۲۰۱٦

(۱) وَحُلُوا أَسَاوِرَ مِن فِضَّة۔
او وابه غوستولے شي دوئ ته باهوګان د سپینو زرو ۔
(سورة الانسان آیت ۲)

# ( بُت )

دَ هوَس بُت ئې پهٔ زړهٔ کښې کښېنولے
چې دَ سپینـــو زرو بُت وي چا لیدلے

کهٔ بُتانو ته سجدې کړي بُت پرسته
نو دَ بُخل پهٔ تعبیر شي ،خوب پېوسته

کهٔ پهٔ کـور کښې دې حېرانه بُت لیدلے
پهٔ تعبیر کښې لکه بُت شوې دم ختلے

دَ باطل لاس ئې پهٔ زړهٔ ایښودے سم وي
چې پهٔ خوب کښې ئې نعرې صنم صنم وي ①

۲۸-۱۰-۲۰۱٦

① صنم: جمع اصنام ، دا سې بُت ته وائي چې عبادت ئې کېږي .
وثن هم بُت ته وائي چې جمع ئې اوثان ده .

( جاري پهٔ بل مخ )

* اساف و نائله :

اساف (نر) اؤ نائله (ښځه) پۀ کعبه کښې دَ زنا دَ ارتکاب لۀ وجې عذاباً کاڼي شوي وو ، خلقو دغه دوه بُتان دَ عبرت لۀ پاره پۀ صفا اؤ مروه نصب کړي وو خو څۀ موده پس ابن لُحی دَ هغې عبادت شروع کړو ۔

* اُقَیْصر :

پۀ زمانه دَ جاهلیّت کښې دَ شام پۀ یو ځائے مشارف کښې دَ قضاعه ، لخم جذام ، عامله اؤ دَ غطفان قبائلو معبود وۀ چې دلته به ئې باقاعده حجونه کول ۔

* جَلسَد :

پۀ یمن کښې دَ حضرموت پۀ سیمه کښې دَ بنـي شکامه بن شبیب بُت وۀ اؤ دا دَ یو ضخیم اؤ غټ انسان پۀ شکل دَ سپین کاڼي نه جوړ وۀ ۔

* ذوالخَلَصَه :

دا بُت دَ مکې اؤ یمن تر منځه دَ تبادلې پۀ مقام دَ خثعم ، دوس اؤ دَ بجیله قبیلو بُت وۀ ، دې ته به ئې کعبه یمانیه هم ووئیل ، دا بُت جریر بن عبدالله مات کړے وۀ ۔

* ذوالشّرَیٰ :

دا بُت دَ دوس اؤ دَ بنـو حارث بن مبشر ازدي معبود وۀ چې دَ نجران اؤ طائف تر مینځ پۀ عسیر نومې ځائے کښې نصب وۀ ۔ پۀ اردن کښې هم دَ یو غر نوم شَریٰ وۀ چې دَ ذوالشّرٰی عبادت خانه وه.

( جاري پۀ بل مخ )

* ذوالکَفَین :
دَ دوس قبیلې معبود وۀ ، اوْ دَ مکې دَ فتح کـولو نه پس طفیل(رض) بن عمرو دوسي دَ نبي کریم(ص) پۀ اجازت سوځولے وۀ۔

* سُواع :
دَ دې ذکر پۀ قران کښې راغلے دے ، چې دَ نوح علیه السلام دَ قـوم پۀ پنځه بُتانو کښې دا هم یوْ بُت وۀ ، عمرو بن لُحَی دا پنځه بُتان دَ خپل یوْ تابع پیرې پۀ وساطت پۀ جده ښار کښې وموندل اوْ بیا ئې پۀ بېل بېل ځایونو کښې نصب کړه ، سُواع یوه عابده ښځه وه اوْ دَ نـوح علیه السلام قوم دا بُت دَ ښځې پۀ شکل جوړ کړے وۀ اوْ دَ رجال اطلاق وربان‌دې تغلیبًا شوے دے ،دا دَ ینبُع پۀ ښار کښې نصب وۀ۔

* الضَیزَنان :
دا دوه بُتان وو چې یوْ باچا غالبًا جذیمه الابرش یا منذر الاکبر دَ عراق دَ ښار پۀ دروازه نصب کړي وو اوْ چې مقصود ترې دَ راتلونکـو خلقـو دَ اطاعت امتحان اخستل وو ۔

* عُزّیٰ :
دَ قریشو عظیم بُت وۀ ، یوْ بُت عراق ته پۀ تلو کښې پۀ وادي نخله اوْ دویم پۀ خانه کعبه کښې پروت وۀ ، دَ دغې بُت دَ ماتولو دَ پاره نبي کریم(ص) خالد بن ولید(رض) لېږلے وۀ قریش به دَ اودۀ کېدو نه وړاندې دَ عُزیٰ اوْ لات عبادت کوو اوْ دَ دوي پۀ نوم به ئې قسمونه خوړل ۔

( جاري پۀ بل مخ )

* لات :

لات دَ حاجیانو یؤ خدمتګار تېر شوے وۀ چې دَ عمرو بن لُحی پۀ ایماء دَ لات بُت جوړ شو اؤ دغسې دَ لات دَ بُت ، بُت پرستي شروع شوه ۔

* منات :

دا دَ عرب خلقو یؤ زوړ بُت وۀ ، دَ دې دَ عبادت اغاز هم عمرو بن لحی کړے وۀ ، بنو ازد اؤ غسان به دَ منات حج کولو ، اوس اؤ خزرج قبیلو به دَ حج نه پس دَ منات خوا کښې احرامونه ویستل. دَ مکې دَ فتح کېدو نه پس دغه بُت علي(رض) بن ابي طالب منهدم کړے وۀ ۔

* نَسْر :

دا پۀ یمن کښې دَ بنو حمیر دَ قبیلې بُت وۀ اؤ پۀ صورت کښې دَ ګونګي پۀ شان وۀ ، دا دَ نوح علیه السلام دَ قوم بُت وۀ چې هغوي دَ مارغه پۀ شان جوړ کړے وۀ ۔

* هُبْل :

دا عېن پۀ کعبه کښې دننه وۀ ، هُبْل د بُعل تحریف دے اؤ لغوي معنیٰ ئې دَ قوت ده ، قرېش به پۀ جنګونو کښې دَ هُبْل نعرې لګولې" اُعْلُ هُبُل" یعنې هُبل زنده باد ، دَ مکې دَ فتح کولو نه پس حضرت علي(رض) دا بُت مات کړے وۀ ۔

ود :

دا بُت دَ تبوک سره خوا کښې دومة الجندل کښې نصب وۀ ، اؤ دَ نوح علیه السلام دَ قوم دَ پنځوو بُتانو نه یؤ وۀ ۔

( جاري پۀ بل مخ )

* یعوق اؤ یغوث :

دا دواړه بُتان دَ نوح علیه السلام دَ قوم معبودان وو او عمرو بن لُحی دَ یو پیري پهٔ ذریعه راوښتلي وو ، یعوق مصیبت لرې کولو ته وائي اؤ دا بُت دَ اس پهٔ شکل کښې وهٔ ، فریاد ته رسیدلو والا ته یغوث وائي اؤ دا بُت دَ زمري پهٔ شکل وهٔ ، دا دواړه بُتـــــان پهٔ یمن کښې پهٔ بېلو بېلو ځایونو کښې نصب وو

پهٔ قران کښې دَ دې ذکر راغلے دے :

* وَقَالُوا لاَ تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلاَ تَذَرُنَّ وَدًّا وَلاَ سُوَاعًا وَلا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا ( سورة نوح )

ترجمه : اؤ ووئیل خپلو خلقو ته چې تاسو خپل معبودان مهٔ پرېـــږدئ اؤ تاسو مهٔ پرېږدئ عبادت دَ وَد ، اؤ نهٔ دَ سُواع اؤ نهٔ دَ یغوث او یعــوق اؤ نسر ۔

شعر : دَ دنیا بُتــــــان کړي قدر دَ بُتـــانو
خود ئې بُت چې دَ بُتانو پرستار ئې (قادري بابا)

مأخوذات :

* اطلسُ القران
* تفسیر احسنُ الکلام
* القاموس الاسلامي
* معجم البلدان
* تلخیص از معجم البلدان
* لسان العرب

# (بتہا یا بتھق)

پۀ یوه سترګه ړوند

کۀ پۀ خوب کښې پۀ یوه سترګه بتہا شي
نو پۀ وینه لۀ جانــانه به جدا شي

پۀ تعبیر کښې تجّسُس ته به مائِل شي
دَ رېبــار نه چې خبرې لا حاصَل شي

یا پۀ دوه زړۀ کښې سړے حېران کېدے شي
یا فرقت دَ ډېر نزدې خپلوان کېدے شي

---

۲۸-۱۰-۲۰۱۶

# ( بتهوه ، بخڅکۍ )

بخڅکۍ کۀ ئې خالي وي دَ پېسو نه
اندېښنه ورته شي پېښه دَ روپو نه

يا دَ رزَق خاتمه وي پۀ دنيا کښې
دَ خالي بتهـــوې تعبير دويَم رويّا کښې

دراهِم ، روپۍ ، کالدارې پۀ بتهـوه کښې
انغرې به ئې سور نۀ شـــي علامه کښې

يا دَ علم پۀ طلب کښې به چمتو وي
پۀ تحصيل کښې به دَ زدکړې ښۀ نامتو وي

پۀ تعبير کښې دَ رازونـو ستر مات شي
دَ شلېدلې بخڅکۍ دا تاويلات شي

# ( بُخل ، بخيل ، شوم )

چې دَ شوم سړي سره زيست پهٔ راستئ شي
نــو لهٔ غمه غوټې غوټې مې مرئ شي

پهٔ خوبونــو کښې غندنه ئې تعبير دے [1]
انتبــــــــاه او خبروَنه ئې تعبير دے

۲۸-۱۰-۲۰۱٦

(١) دَ قرآن او احاديث پهٔ رڼا کښې د بُخل او بخيل پهٔ حقله ولولئ :
* وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُون (سورة الحشر آيت ٩)-
هر هغه څوک چې بچ کړې شو د بخل د خپل نفس نه، نو هم دغه خلق کامياب دي -
* وَأُحْضِرَتِ الانفُسُ الشُّحَّ وَإِن تُحْسِنُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا -
او حاضر کړې شوي دي نفسونه حرص ته ، او کهٔ نيکي وکړئ تاسو او پرهېز وکړئ تاسو نو بېشکه الله خبردار دے په هغه څهٔ چې تاسو ئې کوئ -
(سورة النّساء آيت ۱۲۸ )

( جاري پهٔ بل مخ )

* خَصْلَتَانِ لا يَجْتَمِعَانِ فِي مُؤْمِنٍ؛ الْبُخْلُ وَسُوءُ الْخُلُقِ ( رواه الترمذي ) .
ژباړه : په کامل مومن کښې دا دوه صفته نۀ جمع کېږي ، يو بُخل او بل بد خلقي .

* وَاتَّقُوا الشُّحَّ؛ فَإِنَّ الشُّحَّ أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، حَمَلَهُمْ عَلَى أَنْ سَفَكُوا دِمَاءَهُمْ وَاسْتَحَلُّوا مَحَارِمَهُمْ ( رواه مسلم )
ژباړه : او د بُخل څخه ځان وساتئ ځکه بُخل هغه خلق هلاک کړل چې ستاسو څخه مخکښې وو ، بُخل دې ته آماده کړل چې د يو بل وينې توئي کړي او حرام حلال کړي .

* لا يَدْخُلُ الجَنَّةَ خِبٌّ وَلا مَنَّانٌ وَلا بَخِيلٌ .
ژباړه : جنت ته ټګ باز ، احسان زبادونکے او بخيل ( بې له عذابه ) نۀ داخلېږي ( أبواب البر والصلة، باب ما جاء في البخيل . راوه ترمذي )

* مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ العِبَادُ فِيهِ إِلا مَلَكَانِ يَنْزِلَانِ فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا، وَيَقُولُ الاخَرُ اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تلَفًا .
ژباړه: هېڅ داسې ورځ نشته چې بندګان ئې سحر کوي مګر په داسې حال کښې چې دوه ملائکې راښکته کېږي ، يوه ملائکه وايي يا الله ! نفقه خرچ کونکو ته بدله ورکړه ، چې په مخلوقاتو مال لګوي او دويمه وائي يا الله ! د بخيل مال تلف کړه .
( کتاب الزکاة ، صحيح بخاري )

( جاري په بل مخ )

* قَالَ اللهُ : أَنْفِقْ يَا ابْنَ آدَمَ أُنْفِقْ عَلَيْكَ ( صحيح بخاري )۔
ژباړه : الله تعالیٰ فرمائي : دَ آدم زويه! انفــاق کــوه (دَ خېر په کارونو کښې مال لګوه ) زۀ به پۀ تا انفاق اوکړم ۔

* مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ ، وَلاَ زَادَ اللهُ عَبْدًا بِعَفْوٍ إِلاَّ عِزاً ، وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلّٰهِ إِلاَّ رَفَعَهُ اللهُ (رواه مسلم)۔
ژباړه : پۀ صدقې او خېرات کـولو سره مال نۀ کمېـږي او پۀ عفوې او بخښنې سره الله دَ انسان پۀ عزت کښې زياتـوالے راولي او څوک چې دَ الله دَ رضا دَ پـاره تواضع او عاجزي کـوي الله ئې خامخا اوچتـوي او عزتمن کوي ئې ۔

* لاَ حَسَدَ إِلاَّ فِي اثْنَتَيْنِ رَجُلٌ آتَاهُ اللهُ مَالاً فَسُلِّطَ عَلَى هَلَكَتِهِ فِي الْحَقِّ وَرَجُلٌ آتَاهُ اللهُ الْحِكْمَةَ فَهُوَ يَقْضِي بِهَا وَيُعَلِّمُهَا ۔ (صحيح البخاري )
ژباړه : سيـالي يو اځې پۀ دوو کارونـو کښې درسته ده ، يـو هغه کس چې الله ورله مال ورکړے وي او دې ئې دَ حـق پۀ لاره کښې پۀ پـراخه پېمانه خرچ کوي او بل هغه کس چې الله ورله پُـوه او حکمت ورکړے وي نو دې پۀ دغې پوهې سره فېصلـې کوي او خلقو ته ئې ښـوونه هم کوي۔

* اَلْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلىٰ
بره ورکونکے لاس دَ لاندې اخستـونکي لاس نه غوره دے ۔
(صحيح بخاري)

( جاري پۀ بل مخ )

* د بُخل نه د بچ کېدو شرعي دعا:

اللَّهُمَّ إِنِي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الهَمِ وَالحَزَنِ، وَالعَجزِ وَالكَسَلِ، وَالجُبْنُ وَالبُخلِ وَضَلعِ وَغَلَبَةِ الرِجَالِ۔

ژباړه: یا الله! زهٔ پناه غواړم، دَ غم الم نه، دَ عاجزۍ او سُستۍ نه، دَ بزدلۍ او بُخل نه، او دَ قرضونو دَ بوج نه، او دَ خلقو دَ غلبې نه۔

(بابُ الدعوات۔ صحیح بخاري)

---

د شوم سرې له کوره کهٔ اوبهٔ وي د حیات
پهٔ ما باندې لګېږي لکه زهــــر د ممات (خوشحال بابا)

---

کهٔ عالم وي کهٔ فاضل وي چې بخیل وي
خلق واړه بدګـوئي ځنـې کـــوینه
دَ سخا خُښتن کهٔ هـــر څو ګنهګار وي
واړه خلــق ئې عېبــونه پټـوینه (عبد القادر خټک۔ګُلدسته)

# (بدن او اعضاء)

## انساني سَر :

چې بینا ساتي په زړۀ کښې دَ زړۀ سترګې
نو په سر کښې به بینا شي دَ دۀ سترګې

دا دَ سر سپورے په خوب کښې سرمایه ده
چې پرې بله ستا دَ ژوند ګُله ډیوه ده

چې په سر کښې دې څۀ عېب شو رادوڅاره
نو دَ سر سپورے په داؤ شي لۀ تباره

کۀ په خوب کښې دې لۀ تنه سر جُدا شي
دَ سر سپورے به لتا ځنې منها شي

ډېر سرونه ښکښانه دَ جاه جلال وي
ډېر بچي او کلک متهونه دَ اموال وي

سلطنت تعبير دَ غټې ککرۍ وي
مانده سر لکه پهٔ مثل برېوکۍ وي

چې پهٔ لاس کښې دې دَ لاسه سر ګوزار شي
نو څهٔ څيز به دې دَ لاسه تار پهٔ تار شي

کهٔ پهٔ خوب کښې دَ چا سر چرته بدل شي
دَ څهٔ شوي زيان تعبير نعمُ البدل شي

ملامته شي سرکوزي پهٔ اقدام کښې[1]
چې سرونه چرته ټيټ وي پهٔ احلام کښې

---

(۱) وَلَوْ تَرَىٰ إِذِ الْمُجْرِمُونَ نَاكِسُو رُءُوسِهِمْ عِندَ رَبِّهِمْ ۔ (سورة سجدة آيت ۱۲)
او کهٔ ووينې تهٔ ، چې سرکوزي به وي دغه مجرمان دَ خپل رب پهٔ نزد (د ذلت او ندامت په وجه) ۔

پۀ تنه پورې کۀ سر دې دَ زمري وي
نو ستا قدر ، دبدبه به ضروري وي

چې دَ خر او دَ ډنګر سر ئې پۀ تن شي
قدر کم به پۀ وګـړو دَ دې تن شي

دَ مرغيو پۀ شان سر کۀ دَ بشر وي
نـو تعبير به ئې سفر ، سفر ، سفر وي

کۀ باچا پۀ لاس کښې ډېر ويني سرونه
دبدبه شي پۀ تعبير کښې ګـوهرونه

پۀ رموز دَ هسې خوب دانا پوهېږي
دَ زړۀ حــــال دَ مخ لۀ رنګه څرګندېږي

دَ سر تور سر تعبيرونه ګمراهي ده
انتباه ده ، اشــــاره ده ، آګاهي ده

کۀ پۀ خوب کښې دَ چا سر چرته چقېږي
نو مونځونه دَ عشاء تــرې قضا کېږي

دَ خپل لاسه کۀ دې سر لۀ ځانه بېل کړو
ځان دې کندي ته دَ خپله لاسه ګېل کړو

# (بدن او اعضاء)

## وېښتهٔ او زُلفان :

چې وېښتهٔ پهٔ سترګو راشي باک ئې دېر شي
پهٔ غمونو ، پرېشانــــو کښې سړے ګېر شي

دَ مالدار کهٔ طولاني اوږدهٔ زلفـــــان وي
بندوبست به دَ معاش ئې فـــــراوان وي

انـــدېښنه به دَ قرضونو شي ورپېښه
دَ غريب څټه پـــرې وخېژي لهٔ وېخه *

چې وېښتهٔ ئې وي خرئيلي پهٔ منام کښې
کهٔ دا خوب وي دَ ذوالحجّه پهٔ ايّام کښې

* صوتي قافيه

نو د قرَض بوج ئې کوز شي لۀ اوږو نه
رب ئې خلاص کړي دَ لانجونه او بوغمو نه

يا مېړۀ ، يا دَ مېړۀ مال ئې تالا شي
چې دَ ښځې سر خوبونو کښې کټا شي

چې پۀ ټنډه پېچ و خم زلفې ښکاره شي
آفتـــــونه پۀ تعبير کښې آواره شي

چې وېښتۀ دې پۀ ږمنځه کښې غورځېږي
نو دَ هجر پۀ تېره چـــــارۀ غوځېږي

کۀ پۀ سرکښې خيري، سپږې يا ريچې وي
پۀ کثرت دَ پرېشانـــو ريچې ريچې وي

استفســار ئې هم پۀ شوکو پوکو کېږي
پۀ شوکمارو او کنـډر هم تعبيرېږي

کۀ پۀ تېلو دې و ښتۀ چرته کښې غوَړ شول
نو پۀ برخه کښې دې واړه غوَړ او زيَړ شول

دغه تېل کۀ دې لۀ پـــوزې نه را وځي
نـو تعبير دَ داسې خوب پۀ وَبا وځي

# (بدن او اعضاء)

**تندے :**

دا چې غوټه پهٔ تندي کښې دَ قسمت وي
نو تعبير دَ دې افلاس وي او غربت وي

تنده ماته شي دَ ښهٔ بخت، پهٔ تاثير کښې[1]
دَ ښائسته تندي اثر وي پهٔ تعبير کښې

(۱) شعر : چا پــــرې دريابه هسې ځان وبخښو
چا هسې نخښې پهٔ تندو کښې وکړې

(ډاکټر علي خېل درياب)

## (بدن او اعضاء)

**وروځې**:

دَ وروځو دَ پاره وګورئ
وړومبے توک تعبيرونه دَ"ابرو ، وروځې"
مخ ۵۸

# (بدن او اعضاء)

## سترګې :

دواړه سترګې چې ښائست لري دَ ګلو
تعبیرونه پـــــرې شېدا شي د بُلبلو

تور دَ سترګو به سلیم وي ،خاطر جمع
پهٔ صراطِ مُستقیم وي ، خاطر جمع

دَ شنُو سترګو نه بې دینه څرګندېږي
پهٔ عمل کښې به دے خامخا خوئېږي

دَ ړندو سترګو تعبیر وي ډېر زیاني ①
پهٔ تحصیل کښې مقصدونه نقصاني

① وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيراً مِّنَ الْجِنِّ وَالإِنسِ لَهُمْ قُلُوبٌ لاَّ يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لاَّ يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لاَّ يَسْمَعُونَ بِهَا (سورة الاعراف ۱۷۹ )

کۀ یـــــوه سترګه لۀ بلې بـــوسه اخلي[1]
پۀ هوَس کښې څۀ فائده پۀ دهوکه اخلي

پۀ ورغوي کښې کۀ سترګـــې را نُما شي
دَ افلاس سړي خوارۀ به تـــرې پۀ شا شي

ډېـرې سترګـــې علامه دَ بصیرت وي
دَ زړۀ سترګـــې دَ ایمـــان نورانیّت وي

پۀ خوبونو کښې سْرې سترګې سْره لمبه وي
دغه بُغض وي ، او حسَد وي کینه وي

پۀ زنا کښې کۀ دې سترګـــې مبتلا وي
دغه سترګـــې اموخته به پۀ زنا وي

کلکې سترګې وي کلک سترګے خد آرا
بخیلان وي او شـــومان وي دَ دنیا

(۱) یَعلَمُ خَائِنَةَ الاعیُنِ وَمَا تُخفِي الصّدُورُ ( سورة المؤمن، غافر ۱۹ )

کۀ پۀ وُلو دې وي سترګې دَ انسان
بدرګه به درسره وي پۀ جهان

دَ مرام غشي رسېږي تر هدف ئې
یا دَ مال غوټه غېبي راشي تر کف ئې

چرې څوک کۀ چاله مړه دَ سترګو لیت کړي
دَ بچودَ مرګ تعبیر به ئې وریت پریت کړي

داسې خوب کۀ دَ قېدي وي نو آګاه شي
انتظار دَ شوګیرو سره فنا شي

پۀ تعبیر کښې فقر ختم دَ فقیر شي
دَ مقهور دَ پاره زېرے دستګیر شي

کۀ دې سترګې پرېوتلې وي جولۍ ته
پۀ تعبیر کښې اشاره وي جدايۍ ته

کهٔ دې سترګې شي پهٔ خوب کښې شګې شګې
دَ حالاتــو سترګــې شي به درته بُــرَګــې

۰۴-۱۱-۲۰۱۶

# (بدن او اعضاء)

## خټ او غاړه:

دَ غلام خټ چې جدا شي لۀ تنې نه
نو ازاد شو دَ واکمنـــو دَ فتنې نه

کۀ دَ ښځې صراحي غاړه کښې هار وي
نو اخراج ئې پۀ شتمن سړي نامدار وي

دَ مردانـــو تعبیرونه به خنّـاق وي
دَ مرې پۀ علتونـــو کښې پۀ شـاق وي

دا تاویل به دَ امېل ، هار و تعویذ وي
یا پۀ غـاړه دَ مردانـــو کۀ بل خیز وي

کۀ پۀ غاړه کښې ئې مار وي یا وي پړے[1]
پۀ زکات کښې به خیانت کوي زړۀ سترے

دَ اوچ ښتو تعبیرونه ، خوار و زاره
دَ شاهانـو پېر ښتونه ، قوّت داره

دَ ښتونو پۀ بوجونو به بوج زیات شي
بیماري ده چې خوبونو کښې ښت مات شي

۰۴-۱۱-۲۰۱۶

(۱) سَیُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِ یَوْمَ الْقِیَامَةِ ۔ (سورة آل عمران ۱۸۰)
پۀ ورځ دَ قیامت به ورته پۀ غاړه کړې شي هغه بخیلي، پۀ څۀ کښې چې دوی کړي ده ۔

# (بدن او اعضاء)

## پوزه :

پوز پرېکړي تعبیرونو کښې ذلیل شي
په تېر کښې ، په افـرادو هم دلیل شي

دَ عزت پایه ئې لوړه شي بلنده
چې ښـائسته پوزه لرې څوک ثمر قنده

مُعّطره ئې دماغ چې په نګهت شي
نـو دمه ئې په تعبیرکښې ساه صورت شي

چې په پوزه کښې سُورے وي نومهمات دے
دَ عطرونو بویولو کښې حیات دے

۰۴-۱۱-۲۰۱۶

# (بدن او اعضاء)

## خُلهٔ او شونډې:

دواړه شونډې دوه ملګري دَ انسان وي
لاندینۍ شونډه پهٔ توان کښې دوچندان وي

پهٔ تعبیر کښې دَ قرآن قول ګواه دے [1]
چې دې خُلهٔ پهٔ خوب کښې بنده شي ګناه دے

چې پهٔ خُلهٔ باندې مهرونه لګوینه
پهٔ اندامِ مخصوصه تـــاپه وهینه

(١) الْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَى أَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَا أَيْدِيهِمْ وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ۔
نن ورځ به مهر وهو دَ دوئي پهٔ خلو او خبرې به وکړي مونږ سره لاسونه دَ د دوی او ګواهي به ورکړي د دوی پښې پهٔ هغه کارونـــو چې دوی کول ۔
(سورة یٰس ٦٥)

نو تعبیر دَ داسې خوب مؤذن ښائي
پېشمنې کښې دِ سحر بانګونه وائي

۰٤-۱۱-۲۰۱٦

# (بدن او اعضاء)

## ژبه :

پس ګوئي ، پېغور ، دروغ او دَ اتهام نه
ځان ساته دَ چُغلۍ ، غیبت ، دُشنام نه

خپله ژبــــــه هُم قلا ده هُم بلا ده[1]
عقـــــــوبت دَ ښۀ جزا ، دَ بد سزا ده

---

[1] حضرت لقمـــان علیه السلام چې دَ بني حسحاس مرئے ؤ ، هغه ورته ووئیل چې یـوه بُـزه حلاله کـړه او دَ هغې تر ټـولو ښۀ غوښـې راته راوړه ، لقمانِ حکیم هُم داسې وکړل او زړۀ او ژبه ئې ورته راوړل ، څو ورځې وروسته دَ هغے څښتن بیا ورته ووئیل چې یوه بُزه حلاله کړه خو دَ هغې تر ټولو بدې او خرابې غوښې راته راوړه ، لقمـانِ حکیم یـو ځل بیا هم هاغه زړۀ او ژبه راوړل ، بـادار ئې تـرېنه وپـوښتل چې څو ورځې مخکښې دې دَ بهترینو غوښو په توګه هم دا زړۀ او ژبه راوړې وو ، خو نن دې بیا دَ بد ترینو غوښو په توګه هم دا زړۀ او ژبه راوړل ، دا ولې ؟ حضرت لقمان ورته ووئیل چې صاحبه ، کۀ هم دا دوه شیان ښۀ وي نو په ټول بدن کښې تر دې دوو ښۀ شیـان نشته ، خو که هُم دا دوۀ شیـان بد شي نو بیا په ټول وجود کښې تر دې دوو بد شیان نشته - ( تفسیر ابنِ کثیر )

بې لهٔ شخړې چې دا ستا ژبه دراز وي
نو تعبیر دَ داسې خوب سُخن دراز وي

چې پهٔ خوب دَ دوؤ ژبـو نوازش شي
نو تعبیر ئې فصاحت شي او دانش شي

یـــوه ژبه چې دَ بلې نه را وځي
نـو تعبیر دَ منافق ترې نه بیا وځي

ګونګه ژبه تعبیرونه کښې فساد وي
بنده ژبه پهٔ تعبیر کښې نامراد وي

چې پارسوب دَ ژبې وي دَ خُلې پهٔ تل کښې
نو شتمن شي دَ کارونـو پهٔ بدل کښې

پهٔ خوبونو کښې کهٔ ژبه ئې پرهر شي
پهٔ بُهتان او پهٔ دروغو به ښهٔ سر شي

کۀ ئې ښځه شي پۀ خوب کښې بې زبانه
نو پاکې ئې شي خاوند ته ورعيانه

دا دَ ژبې دَ خوراک به څۀ تفسير وي
زغم او صبر به تفسير دَ دې تعبير وي

۰۵-۱۱-۲۰۱٦

# (بدن او اعضاء)

## غاښونه :

پُورتني غاښونه اصل کښې عُليا وي
پۀ کوږمه کښې دَ بابا به اقربا وي

لانديني پۀ لُغتونـــو کښې سُفلىٰ وي
پۀ تعبيرکښې ترې ټبر دَ مور معنىٰ وي

پۀ عُليا کښې ثنايا کله پــدَر وي
يا به ترُونه پۀ تعبير کښې دَ بشر وي

پۀ دې لاندې ثنايا اطلاق دَ مور وي
پۀ تعبير کښې کله کله يوه ترور وي

پورتني رباعيّـــات به تربــوران وي
پۀ تعبير کښې ترې مراد کله ياران وي

دَ تـرور لونه لانديني رباعيّات وي
پۀ خوبونو کښې دَ ديوو علامات وي



پُورتني انياب غاښونه به زامن وي
لانديني انياب به لونړه ګُل بدن وي

خندني به پۀ غاښونو کښې ماما وي
يا نــران کۀ دَ ماما نه دې پېدا وي

کۀ سُفلیٰ وي نو مراد ترې نه مامي وي
يا به لُونړه دَ ماما دې تمامي وي

نــور غاښونه کۀ دَ ژامي شي خپلوان دي
غاښ دَ عقل پۀ تعبير کښې بُــزرګان دي

کۀ پۀ ژامه کښې دې ، غاښ وي راختلے
لاندې لُور وي ،پورتنے وي هلک ښکلے

چې غاښونه دې معدوم شي نو تاوان دے
هلاکت دَ خپل خانـــې او خاندان دے

کۀ یو غاښ دې پۀ خوبونو کښې رنځور شي
نو نـــــاروغه یو خپلوان به دې ضرور شي

کۀ دې سپین غاښونه برېښي پۀ خندا کښې
نو قوّت ، مال و منال وي پۀ دنیا کښې

چې غاښــونه دَ لرګـي یا دَ شیشې وي
پۀ تعبیر کښې دا دَ مړینې اندازې وي

پۀ زیـــړې به ئې تعبیر وي کۀ دَ سرو شي
پۀ سپین زرو کښې به غم ئې دَ کتو شي

۱۳-۱۱-۲۰۱۶

# (بدن او اعضاء)

## غوَږونه :

پهٔ غوَږونو کښې کهٔ سترګې راپېدا شي
دغه کَس به بې نظـــــره نابينا شي

چې يو غوَږ ترې نه غائب شي پهٔ بدن کښې
دهٔ نه ښځه به جدا شي پهٔ آن فن کښې

کهٔ غوَږونه ئې سېــوا شي پهٔ فطرت کښې
نو لهٔ حقه روګـــردان شي حقيقت کښې

چې غوَږونه دې سالم وي نو صحت دے
عِلم و فهم دے ، بـــاور او ديانت دے

چې لیدلے دې ښائسته وي دواړه ګوش
اطاعت وي دَ ښائسته عمل پهٔ دوش

۱۳-۱۱-۲۰۱۶





پښتو نیټ
PUKHTO.NET

# (بدن او اعضاء)

## لاسونه او متې :

پهٔ تعبیر کښې ئې دبدب دَ امتیاز وي
پهٔ خوبونـو کښې لاسونه چې دراز وي

پهٔ معنیٰ کښې به تر دهٔ نهٔ وي ماهر څوک
چې غُره وينې پهٔ متو کښې غاور څوک

دَ لاسونـــو پراخ والے بالادست وي (١)
تش لاسونه پهٔ تعبیر کښې تهي دست وي

---

(١) وَقَالَتِ الْيَهُودُ يَدُ اللهِ مَغْلُولَةٌ ، غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ وَلُعِنُوا بِمَا قَالُوا ، بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ يُنفِقُ كَيْفَ يَشَاء - ( سورة المائدة ٦٤ )

ووئیل یهودیانو: دَ الله لاس تړلې شوي دي ، دَ دوی لاسونه دې وتـــړلے شي او دَ دې وينا پهٔ سبب دې پهٔ دوی لعنت وشي ، بلکې دَ هغهٔ دواړه لاسونه خلاص دي ، څنګه چې ؤغواړي انفاق کوي.

چې پۀ خوب کښې دَ لاسونو پۀ سر ګرځي
نــو پۀ سر ئې شي لاسونه ، پۀ سر ګرځي

پۀ لاسونو کښې کۀ یو لاس ئې کوتاه شي
پۀ نیکۍ کښې دَ سُستۍ نه دې آګاه شي

دغه کَس به دَ فـــــراق په اور ستي شي
چې خوبونــو کښې لاسونه ئې پُردي شي

پۀ خوبـــونو کښې لاسونه چې معدوم شي
نوعاشق ته دَ خپل یار عشق ورمعلوم شي

کۀ یو لاس ئې دَ بل لاس سره پۀ جنګ شي
پۀ تعبیر کښې دَ عمل ائینـــه زنګ شي

۱۷-۱۱-۲۰۱۶

# (بدن او اعضاء)

## ګوتې :

تصادُم کۀ ئې پۀ ګوتو کښې دوڅار شي
پۀ تعبیر کښې دې ډغرې ته تیـــار شي

بل تعبیر ئې دَ مونځونـــو دَ غافِل وي
یا بې وخته به مونځونـــو ته مائل وي

اشتباک دَ ګوتـوڅۀ وي خو شرکت دے [۱]
دَ مرام پۀ ثمَـــره کښې اشارت دے

کۀ پۀ ګوتـو کښې کمے راشي آفت کښې
نو غرَه خلق پرېبـــاسي علامت کښې

---

(۱) اشتباک: یو بل کښې ننوتې ۔

ډېرې ګوتې به سبب دَ ډېر اسباب شي
یا پهٔ زدکړه کښې مُرشد به ئې کتاب شي

کهٔ لېدلے وي شاهانو ګوتې ډېرې
نو به وُلې خپل اولس ته شُوتې ډېرې

کهٔ دې هم دَ ګوتې مات شو نو بېلتون دے
پهٔ فراق کښې دَ خپلوانو زړهٔ چاؤدون دے

کهٔ دې ګوتې پهٔ نکریزو نهٔ رنګېږي
پیکه مینه دَ خاوند ترې څرګندېږي

دَ سرو ګوتې چې سْرې شي پهٔ حنا کښې
نو مشغول به شي پهٔ ذکر دَ اللّٰه کښې

۱۷-۱۱-۲۰۱۶

# (بدن او اعضاء)

## نوکونه :

دا چې مخ درله کړي کربښې په نوکارې
په تضعیف کښې به تهٔ ووهې کوکارې

کهٔ نوکـــونه دې قوي وي ، تـوانګر ئې
کهٔ نوکونه دې مانده شول نـو لاغر ئې

کهٔ نوکونه دومره لوئې وي چې ماتېږي
نو څهٔ خنډ به په کارونو کښې جوړېږي

کهٔ نوکـونه دې پهٔ مثل د وَسلې وي
پهٔ تعبیر کښې به وَسلې ته اشارې وي

مُعتدل نوکان پهٔ خوب کښې اعتدال وي
دَ دارېښـــــو چارې وارہ پهٔ خِصال وي

۱۷-۱۱-۲۰۱٦

# (بدن او اعضاء)

## سينه :

دَ عرفان لۀ نُـــوره ډکه مې سينه کړه
دا سينه مې دَ حکمت لويه چينه کړه

مُدعي دې لاف دَ خام مُحبت نۀ کړه ①
پۀ سينه کښې چې تنګي دَ ځان ليدۀ کړه

دَ ايمـان دَ پولې حد ئې لا قوّي شي ②
چې سينه چرته پۀ خوب دَ چا قوّي شي

---

① وَمَن يُرِدْ أَن يُضِلَّهُ يَجْعَلْ صَدْرَهُ ضَيِّقًا -
او هاغه څوک چې هغۀ ئې دَ ګمراه کولو اراده وکړي نو دَ هغۀ سينه تنګه کړي -

② فَمَن يُرِدِ اللهُ أَن يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ -
نو هغۀ څوک چې الله هغۀ ته دَ هدايت کولو اراده وکړي، دَ هغۀ سينه دَ اسلام دَ پاره پراخه کړي -
(سورة الانعام ١٢٥)

اوبزانده کۀ ځوک زن وي لۀ سینو نه
پۀ زنا اولاد زیږیـــږي لۀ نطفو نه

کۀ دَ ښځې سینـــې ډکې کامله شي
داسې ښـــائي چې به دغه حامله شي

کۀ پۀ خوب کښې دَ غریب دغه احوال وي
دَ مُراد بــــاده ئې ډکه پۀ اموال وي

دَ بوډۍ ښځې تعبیر څۀ عجیبه دے
پرې زوال دَ مال متاع ئې قریبه دے

پۀ تعبیر کښې دَ مرګ څُونه به مړیږي
داسې خوب کۀ ماشومانـو ته پیښیږي

کۀ سینه ئې شي دَ کاڼي سنګدلي ده
ښـــائسته والې دَ سینې تَجَلّي ده

کۀ سینه ئې شي وَ ډکه دَ تورتم نه[1]
جهالت ته اشــاره وي لۀ آدم نه

۱۹-۱۱-۲۰۱۶

① فَوَيْلٌ لِلْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُم مِنْ ذِكْرِ اللهِ أُولَئِكَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ - ( سورة الزمر ۲۲ )
پس هلاکت دے هغو کسانو ته چې دَ هغوئ زړونه دَ الله لۀ ذکره سخت دي ، دغه کسان په ښکاره ګمراهۍ کښې دي -

# (بدن او اعضاء)

## نوم (ناف):

چې غوټۍ دَ نوم ښائسته دَ ګُل پهٔ څېر وي
نو دَ ښځې عبارت ترې نه دَ خېر وي

کهٔ ليدلے دې نـــاولے چرته ناف وي
نو تعبير ئې دَ وړومبي نه برخلاف وي

۱۸-۱۱-۲۰۱۶

# (بدن او اعضاء)

**ګېډه :**

کۀ پۀ ګېډه درد دَ دست او یا اسهال وي
علامت ئې پۀ مصـــــرف دَ عبث مال وي

کۀ پۀ ګېډه کښې قړ قوړ وي نو وبال دے
پۀ خروج ئې پۀ خپلوانو کښې جنجال دے

کۀ پۀ ګېډه کښې وانښۀ دَ چا زرغون شي
چې پېدا دے پۀ دنیا آخـر ئې یـون شي

اډانه چې روزګارونه پۀ حــــلال وي
پۀ تعبیـــر کښې غټه ګېډه بیا اموال وي

کۀ دې ګېډه شي سورۍ ، نــو بنۀ خبر شه
ستا مالونه ستا ټبــر خوري ، تۀ خبر شه

کۀ دې ګېډه وي کمزورې پۀ زبـــون کښې
معیشت به دې لاغر وي پۀ ژوندون کښې

۱۹-۱۱-۲۰۱٦

## (بدن او اعضاء)

**مُلا** :

زر به واوري ښکلې برخه په تعبير کښې
چې بندونه دې قوي وي په شهُتير کښې

داسې خوب دَ برياالتوب نه خالي نهٔ وي
پهٔ جنبه کښې دَ همت ئې سيـالي نهٔ وي

کهٔ پهٔ خوب کښې دَ ملګرو درته شا شي
نوخوارهٔ ياران پهٔ سخته کښې پهٔ شا شي

کهٔ ليدلے دَ دښمن دې پښـې شا وي
نو تعبير دَ داسې خوب سلامتيا وي

کهٔ لیدلے دَ بــــوډا بــــوډۍ دې مُلا وي
نــو زوال دَ حشمتونــــو ســــره ستا وي

غبرګه مُلا کهٔ پهٔ خوبونو کښې دوځار شي
پهٔ پیرۍ یا مصیبت کښې ګرفتـــــار شي

---

۱۹-۱۱-۲۰۱۶

# (بدن او اعضاء)

## عضوء تناسُل:

بزرگـــــي به ئې ارومرو تباه شي
چې ئې خوب کښې تناسُل په نظر را شي

په خصال کښې چې دَ خلقو نه پنهان وي
نـو تعبير دَ عظمتـــــونو دَ نښـــان وي

په تعبير کښې به تبشير دَ اِسْتبشــار وي
مُنتشِر په انتِشــار کښې چې سرشـار وي

بې زامنــو ته به زېـرے دَ تــوليد وي
په تعبير کښې دَ غريب مالِ يُـريد وي

کۀ آله درنه شــوه پاتــې شرمګاه کښې
نو تعبير به ئې وي حمَل پۀ هر ګاه کښې

کۀ دَ ښځې جنْس بدل شــولو روېّا کښې
تاويلــونه ئې يــو څو وي پۀ سودا کښې

يا به تــول عمر دا شنډه وي خبر شه
يا دَ خــوئې نه به ارهنډه وي خبر شه

طولانـــي آله به حال دَ انديښنو شي
پۀ تعبير کښې بدرګه دَ پــرېشانو شي

بيمـــاري به پۀ تقدير رسي انســانه
کۀ شي خوب کښې لۀ جماع څخه ناتوانه

کۀ پۀ خوب کښې ګنـده وينه آله څښينه
نــو حرامه بد فعلــي به دې کـــوينه

پهٔ انګڼ به ئې ماتم دَ ورکــې کېږي
کهٔ پهٔ خوب کښې دې آله چرته ورکېږي

کهٔ سپوږمۍ تـرې راوتله نو جینۍ شي
کهٔ ښاخونه تـــرې وتله نـــو پېږۍ شي

کهٔ پهٔ داره کښې وتلې تـــرې جوهر وي
نـو تعبیر دَ داسې خوب عالم پسر وي

احتلام کهٔ شهٔ واقع نو خوب باطل شو
پهٔ القاء دَ شیطانانـــو کښې شامل شو

---

۲۱-۱۱-۲۰۱٦

# (بدن او اعضاء)

## پښې :

کۀ څوک پښې پۀ خوب کښې ويني ملګرو
تعبيرونه ئې ووځـي دَ څــو خبـرو

پۀ تعبيـر کښې دَ زاهد تـوبه شي ماته
زنځوران پکښــې اګاه شـي لۀ وفـاته

حاکمـــان پرې مُبّــرا شي لۀ تختونـــو
سترګـــې داسې شي بدلې دَ وختـــونو

دَ امير ســـرې تعبيـــر فقـر و فاقه شي
ور پۀ غـــاړه پرې خانانـــو ته خرقه شي

دغه واړه تعبيـــرونه تـــرې ويستې شي
پۀ خوبونو کښې چې پښې چرته کښې پرې شي

دَ بدحاله تعبیـــرونه به برعکس وي
دواړه پښې کۀ چرته ماتـــې دَ چا کس وي

پۀ تـــور زړۀ کله اثـــر دَ نصیحت شي
ګناهګار پـــرې مُستغني لۀ معصیّت وي

کۀ پۀ پښـو باندې وېښتۀ چرته زرغُون شي
نو پۀ قرض به هم دغه کس زبـــون شي

پۀ ګـرمۍ کښې دَ دې خوب دغه تعبیر وي
خو پۀ ژمي کښې تعبیر دَ مال کثیر وي

دَ عورتـــو اوړے ژمے بد تاویل شي
بد نامي شـي ، یا آفت شي ، یا ذلیل شي

کۀ پۀ پښو کښې بې لۀ درده څۀ پاړسوب وي
پۀ دنیا مئین ، تعبیـر به دَ دې خوب وي

مادي حشم ، دَ مغرورو پـــرې کمېـــږي
کۀ ئې پښه چرې پۀ خوب کښې وخوئېـږي

کۀ پۀ خوب کښې پۀ يوه پښه چرې تګ شي
نـو دَ سختو ور پۀ سر ورته لوئے ننګ شي

دَ پښې ګـــوتې به اعمالِ صالحه وي
پۀ اعمالو دَ ســړي به اشــــــاره وي

۲۲-۱۱-۲۰۱۶

# (بد حال)

عمَلـونه چې ناسم شي زړهٔ غورځېږي
تدبیرونه چې عدم شي زړهٔ غورځېږي

دَ بدحـــــاله کَس تعبیر پهٔ غربت کېږي
دا تاویل پرې دَ قرآن پهٔ مَسّت کېږي ①

---

① أمْ حَسِبْتُمْ أن تَدْخُلُوا الجَنَّةَ ولَمَّا يَأتِكُم مَثَلُ الذِينَ خَلَوا مِن قَبْلِكُم مَسَّتهُمُ البَأسَاءُ وَالضَّرَاءُ۔
ایا تاسو دا گمـان کوئ چې جنت ته به داخل شئ ، حال دا چې پهٔ تاسو لا تر وُسه دَ هغو خلقو حالت نهٔ دے راغلے چې لهٔ تاسو نه مخکښې تېر شوي دي هغوی ته سختئ او بیماری رسېدلي وې ۔

(سورة البقرة ٢١٤)

# (برص ، برګے )

توانګر ته اشــاره وي پۀ نصوص کښې
کۀ بُرګے وي پۀ ځرمنه دَ مبروص کښې

وراثت ترې هم تعبير مونږه ويستے شو
دَ نــامې او دَ جامې قياس راوړے شو

# ( برېت )

خواشيني ئې پۀ تعبيـر کښې عبارت وي
چې پۀ خوب کښې غټ برېتونه دَ حېرت وي

غټ برېتــونه چې خنۀ اچوي خوراک کښې
نو تفريط ته اشاره وي ژوند او ژواک کښې

چـې ښائسته اومُعتدل وي پۀ سمبال کښې
مال دَ خصَل ئې تعبير شي پۀ خِصال کښې

۲۴-۱۱-۲۰۱۶

# (برېښنا او تندر)

تندرونه چې پړقېږي او ډزېږي
پهٔ تعبیر کښې عذابونه نازلېږي

تندرونه چې پهٔ سر دَ چا غورځېږي
نو ډېوه دَ ژوندانه به ئې تتېږي

عملونه پهٔ تفریط کښې چې کوتاه شي
داسې خوب خبردارې او انتباه شي

تندرونه چې بسیار وي پهٔ شدت کښې
نو غوغا ئې شي تر غوږو پهٔ آفت کښې

مُسلّط پهٔ ملتونو جابران شي
دَ ځل ځول سره برېښنا چې دَ آسمان شي

پهٔ کورونـــو کهٔ بجلي را نـــازلېږي
تسلُّط به دَ باغیانـــو پهٔ دوی کېږي

آتشي برېښناپهٔ خوب کښې فسادات وي
دَ بې اوره برېښنـــايۍ مُراد آفات وي

۲۴-۱۱-۲۰۱۶

# ( بستره )
توشک ، تولائي ، لاندپستونے

پهٔ کم اصلو ، یا اصیلو نــــازنینو
لاندیستــونې اوخاریږي پهٔ ارتینــو

خریدار کهٔ دَ توشک ئې نـو فائده ده
دَ مُقېشو بستــره ښځه ښائېسته ده

خیرې ویـرې بستره به وي بې دینه
یا فــــاسِده ، مکــر ژنه وي ارتینه

نوره وضع پهٔ بدلون باندې اطلاق شي
پهٔ تعبیر کښې اشاره دَ زن طلاق شي

